هیواد

ورځپانه

مؤسس: عبدالرووف بېنوا | د تاسیس کال ۱۳۲۸ لمریز | پنجشنبه د شعبان المعظم ۲۸مه ۱۴۴٦ ق کال، د کب ۹مه ۱۴۰۳ ل کال، د فبروري ۲۷مه ۲۰۲۵ م کال، خصوصي ګڼه ۵۵۵مه، پرله‌پسې ګڼه ٦۴۵مه، اتمه دوره

د اسلامي نظام د اقتصادي مسئولیتونو تر سرلیک لاندې سیمینار تر سره شو

د علومو اکاډمۍ له لوري د اسلامي نظام د اقتصادي مسئولیتونو تر سر لیک لاندې سیمینار تر سره شو . په دې اړه راټولې شوې غونډې ته په وینا کې دعلومو اکاډمۍ د طبیعي علومو معاون مولوي امیر جان ثاقب وویل: د اسلامي نظام تر سیوري لاندې نن افغانان د اقتصادي ابادۍ په موخه سیمیارونه جوړوي چې تر اوسه یې تر لسو پورې برابر کړي دي. د اقتصادي ودې په پار یې پیاوړي اسلامي بانکنګ خدمتونه جوړ کړي دي، نه پکې سود شته او نه په کې له دین سره په ټکر کې ګټه. اسلامي امارت هڅه کوي چې په هره برخه کې د هېوادوالو لپاره اسانتیا رامنځته کړي.

په ورته مهال د رئیس الوزراء مولوي محمد حسن اخند له لوري په رالېږل شوې پیغام کې ویل شوي چې په اسلامي نظام کې ولس خپل ځانګړي حقوق لري، د ولس اقتصادي پرمختګ او د نورو له احتیاجۍ څخه خلاصون خپل مسئولیت ګڼي، د ویجاړ اقتصاد رغونه اړینه ده چې ولس له فقر څخه ژغوري او د اقتصادي ودې په موخه په بېلا بېلو سکټورونو کې اقدامات تر سره شوي دي. د اوبو د مدیریت، صنعت، اقتصادي... **۷مخ**

عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه الله) د ارزګان له علماوو او قومي مخورو سره وکتل



عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالي ورمه ورځ د ارزګان ولایت د علماوو شورا او قومي مشرانو سره وکتل، غونډه د قرآن کریم په تلاوت پیل شوه، ورپسې د ارزګان د علماوو شورا رئیس مولوي عبدالغفار صاحب، عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله تعالي ته د ارزګان ولایت د وضعیت او په هغه ولایت کې د علماءکرامو د فعالیتونو په اړه معلومات وړاندې کړل.نوموړي زياته کړه، د علماوو شورا کوښښ کړي ،چې د ارزګان ولایت ټولو سیمو ته د شیخ صاحب حفظه الله تعالي... **۷مخ**

فطرت:

اسلامي امارت د رسنیو ارزښت درک کړی او ملاتړ یې کوي

د اسلامي امارت مسئولینو د رسنیو او مطبوعاتو د ملاتړو بنسټونو له استازو سره ګډه خبري غونډه کې هغه اسلامي امارت مرستیال ویاند حمد الله فطرت په هېواد کې له فعالو رسنیو د هراړخیز ملاتړ ژمنه یو ځل بیا تازه



ګنګوسې رد کړې چې وايي اسلامي امارت د رسنیو پر وړاندې خنډونه جوړوي او غواړي بندې یې کړي.د کړه.فطرت په دې اړه وایي: اسلامي امارت د رسنیو اهمیت او ارزښت درک کړی او ملاتړ یې کوي... **۷مخ**

زابل کې ۱۱۳ پراختیایي پروژې پلې شوې

په زابل کې د ۱۴۰۳ مالي کال په اوږدو کې د ۴.۳ میلیاردو افغانیو په لګښت ۱۱۳ بېلابېلې پراختیایي پروژې پلي شوې، چې له امله یې ۵۲ زره کسانو ته د کار زمینه برابره شوې ده.

د زابل مرستیال والي، مولوي محب‌الله حماس، په یو خبري کنفرانس کې وویل ،چې له یاد شمېر پروژو ۵۴ یې د اسلامي امارت له بودیجې او ۵۹ نورې یې د نړیوالو او همکارو موسسو په



مالي ملاتړ پلې شوې دي .د نوموړي په وینا: په یادو پروژو کې د روغتیایي مرکزونو تجهیزات، د درملو پېرل د بېلابېلو تولګیو ځایونو لکه:سړکونو، ودانیو، د اوبو شبکو، بندونو، چکډېمونو، استنادي دېوالونو، مارکېټونو او ښوونځیو جوړول او بیارغول شامل دي.همدارنګه، د روان مالي کال په ترڅ کې ۱۷۰۰ کډوال زابل ولایت ته راستانه شوي، چې ورسره میلیونونه افغانۍ مرستې شوې دي.د چارواکو د معلوماتو له مخې، تر اوسه ۲۰۸ زره او ۲۵ کسانو ته خوراکي او غیرخوراکي توکي ورکړل... **۷مخ**

کابل کې کورونو ته د پاسپورټونو رسولو لړۍ پیل شوه



افغان پُست اماراتي شرکت پرون د یوه تازه اقدام په ترڅ کې په پلازمېنه کابل ښار کې کورونو ته د پاسپورټونو د رسولو لړۍ په رسمي ډول پیل کړه.په همدې موخه د پاسپورټ د لوی رئیس پاسوال مولوي عبدالکریم حسیب او د افغان پُست اماراتي شرکت د رئیس مولوي رحمت الله مکي ترمنځ د افغان پُست اماراتي شرکت د غونډو په تالار کې یو هوکړه لیک هم لاسلیک شو.د افغان پُست اماراتي شرکت رئیس د یاد هوکړه لیک د لاسلیکولو په مراسمو کې وویل ،چې یاد شرکت هېوادوالو ته د غوره چوپړتیاوو د وړاندې کولو په موخه شپه او ورځ هڅې کوي.

دهٔ داډورکړ، چې د دغې لړۍ ازمېښتي دوره په بریالیتوب سره ترسره شوې او په دې برخه کې کومه ستونزه شتون نه لري.په ورته وخت کې د پاسپورټ لوی رئیس پاسوال مولوي عبدالکریم حسیب د دې ... **۷مخ**

جلال آباد ښار کې د یوې پروژې چارې پیل شوې

د جلال اباد ښاروالۍ مسئولین وايي چې د یاد ښار په ۱۱مه ناحیه کې د ۵.۲ میلیونو افغانیو په ارزښت د یوې پروژې چارې پیل شوې دي.د جلال‌اباد ښاروالۍ د ښار او ارزونې آمر انجنیر عبدالله نېکمل باختر اطلاعاتي اژانس ته ویلي، چې د جلال اباد ښاروالۍ د نړیوال بانک او د ملګرو ملتونو د پروژوي خدمتونو اداري په مالي ملاتړ، د اوومې ناحیې په ۱۱م ګذر کې د ۵.۲ میلیونو افغانیو په لګښت د ۷۰۰ مترو په اوږدوالي او ۴.۸ د مترو په سور... **۷مخ**

د عامې روغتیا وزیر:

همکارې اداري دې د روغتیایي سیستم په لا پیاوړتیا کې هر اړخیزه همکاري وکړي

د عامې روغتیا وزارت وايي: د دې وزارت د څارنې او پلټنې ریاست په ملي کچه د شواهدو او تصمیم‌نیونې پر بنسټ د ارقامو راټولولو او تحلیل په موخه له اړوندو ادارو سره غونډه کړې.په دې غونډه کې د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي، د وزارت مرکزي او ولایتي رئیسانو، د روغتیا نړیوال سازمان استازو، د یونیسف اداري مسئولینو او روغتیایي کارکوونکو شتون درلود. د عامې روغتیا وزیر مولوي نور جلال جلالي بېړنیو پېښو ته د رسېدو، تصمیم‌نیونې،



د چارو اغېزمنتیا، د منابعو د نه ضایع کېدو او ساري ناروغیو د کنټرول لپاره د کره معلوماتو راټولول او د هغو تحلیل، یو مهم... **۷مخ**

فراه کې له ۶۵ روغتیایي مرکزونو سره د طبي وسایلو مرسته وشوه

د فراه د عامې روغتیا ریاست مسئولینو د آسیایي بانک او یونیسف دفتر په مالي ملاتړ د ۱۰۰ زره ډالرو په ارزښت د طبي او غیرطبي وسایلو د ترلاسه کېدو خبر ورکړی دی.

د جک موسسې یو مسئول ډاکټر سباوون سعادت وویل ،چې یاد توکي به د فراه ولایتي روغتون او ۶۴ نورو روغتیایي مرکزونو ته د روغتیایي خدماتو د ښه والي او د شته ستونزو د هوارۍ په موخه... **۷مخ**

د پوهنې وزارت له ۲۵ وزارتونو او ادارو سره د همکاریو هوکړې لاسلیک کړې


د پوهنې وزارت وايي؛ د هېواد له ۲۵ وزارتونو او ادارو سره د سواد زده کړې کچې لوړولو په موخه، د ګډو همکاریو هوکړې لاسلیک کړې.

د پوهنې وزارت له لوري د هېواد له ۲۵ وزارتونو او ادارو سره، په ادارو کې د نالوستو کسانو لپاره د سواد زده کړې کچې لوړولو په موخه، د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې مرستیال مولوي سخاءالله سعید، د کیفیت د تضمین مرستیال مولوي عبدالخالق صادق، مرکزي رئیسانو، د یو شمېر




نورو وزارتونو مرستیالانو او مسئولینو په شتون کې لاسلیک شول.په دې هوکړه لیکونو سره به یادې اداري د علمي همکاریو نوی باب پرانیزي. په دې اړه د جوړې شوې غونډې په پیل کې... **۷مخ**

تفاهمنامه‌های همکاری میان اداره حوادث و موسسه کورد اید امضا شد



ملا نورالدین ترابی سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، با سید لطیف بشردوست رئیس موسسه کورد اید سه تفاهمنامه همکاری امضا کرد.دفتررسانه های اداره ملی و آمادگی درخبرنامه یی نگاشته است: سرپرست اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث حین امضای این تفاهمنامه‌ها گفت: بر اساس مسئولیت‌های وظیفه‌یی و ایمانی ما، رسیدگی... **ص۷**

لوېدلـــــــي ستوري



۵مخ

وروستي اوربشتونه؛ هیلې او له زیانمنو سره د بېړنیو مرستو اړتیا



۲مخ

تاپي پروژه د اسلامي امارت د لومړۍ دورې نوښت و



۳مخ

هیواد

پنجشنبه د شعبان المعظم ۲۸ مه ۱۴۴٦ ق کال | د کب ۹ مه ۱۴۰۳ ل کال | د فبرورۍ ۲۷ مه ۲۰۲۵ م کال | خصوصي ګڼه ۵۵۵ مه | پرله پسې ګڼه ٦۴۵ مه، اتمه دوره



وروستي اورښتونه؛ هیلې او له زیانمنو سره د بېړنیو مرستو اړتیا

افغانستان یو داسې هېواد دی چې اقتصاد یې تر ډېره بریده پر کرنې، مالدارۍ او طبیعي سرچینو تکیه لري. د وروستیو کلونو وچکالیو او د اقلیم د بدلون له امله، د اوبو کموالي د افغانانو ژوند او زراعت ته جدي ګواښونه رامنځته کړي دي. له همدې امله، وروستیو بارانونو او واورو د زراعت لپاره د ژوند بښونکي نعمت حیثیت خپل کړی، خو له بلې خوا، له دې طبیعي رحمت سره ځینې ستونزې هم راپیدا شوې دي. سیلابونه، د کورونو نړېدل، د سړکونو بندېدل او د خلکو اقتصادي زیانونه. په نړیواله کچه د اقلیمي بدلون له امله د وچکالیو کچه لوړه شوې، چې افغانستان هم ترې مستثنا نه دی. د وروستیو اورښتونو په برکت، د ځمکې لاندې اوبه ډېرېږي، ویالې او بندونه ډکېږي او کرنیزه ځمکه حاصل ورکولو ته چمتو کېږي. دا بارانونه، نه یوازې د بزګرانو لپاره خوشحالي راوړي، بلکې د هېواد د اقتصادي ثبات لپاره هم مهم دي. که څه هم بارانونه او واورې رحمت دي، خو د غیرمنظمې زېربنا، غفلت او د سېلاب ضد اقداماتو د نشتوالي له امله، دا اورښتونه د ګڼو کورنیو لپاره مصیبت ګرځېدلي. د هېواد په ګڼو سیمو کې سېلابونو کورونه، کرنیزې ځمکې او مهمې لارې تخریب کړي، چې د خلکو ژوند یې له سختو ستونزو سره مخ کړی دی. حکومت باید د طبیعي پېښو پر وړاندې د مدیریت وړتیا لوړه کړي. دا اړینه ده چې د اوبو د مدیریت، د سېلاب ضد بندونو جوړولو او د خلکو د خوندیتوب لپاره بېړني تدابیر ونیسي. شتمن افغانان، سوداګر او خیریه بنسټونه باید د زیانمنو کورنیو لاسنیوی وکړي. دا نه یوازې د بشري همدردۍ تقاضا ده، بلکې زموږ د ملي وحدت او اسلامي اخوت یو مهم اړخ هم دی. نړیوالې مرستندویې ادارې باید د افغانانو دا اړتیا درک کړي او په ځانګړې ډول د سرپنا، خوراکي توکو او روغتیایي خدماتو په برخه کې مرستې پراخې کړي. بارانونه او واورې زموږ د طبیعت د توازن او د اقتصاد د پیاوړتیا لپاره حیاتي دي، خو د سېلابونو مخنیوی، د خلکو ژغورنه او د زیانمنو لاسنیوی زموږ ګډ مسئولیت دی. که چېرې حکومت، شتمن افغانان او نړیوالې ادارې په ګډه کار وکړي، موږ کولی شو دا طبیعي رحمت په یوه ستر فرصت بدل کړو او د زیانونو مخنیوی وکړو.

د فکري جګړې پر وړاندې د اسلامي امارت هڅې

محمد قاسم عزام

د غربي رسنیو، فکري مؤسسو او معلوماتي وسایلو له لارې د اسلامي امارت پر وړاندې اطلاعاتي جګړه شدیده شوې ده. دا جګړه د اسلامي ارزښتونو د تحریف، د اسلامي هویت د کمزوري کولو او د غربي افکارو د ترویج پر اساس ولاړه ده. غربي رسنۍ هڅه کوي چې اسلامي مفاهیم تحریف کړي، د اسلامي امارت شرعي نظام ته د سخت دریځۍ رنګ ورکړي او د مسلمانانو په منځ کې شکونه او تفرقه ایجاد کړي. همداراز، د کفري تمدن د ترویج لپاره مختلفې لارې کارول کېږي، چې د اسلامي اخلاقو کمزوري کول، د جهاد د مفهوم تحریف او د اسلامي نظامونو خلاف تبلیغات پکې شامل دي.

اسلامي امارت د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لارې د فکري جګړې پر وړاندې مدبرانه پالیسي وضع کړې، چې موخه یې د اسلامي فکر ساتنه، د غربي یرغل مخنیوی او د ملي او اسلامي هویت پیاوړتیا ده. دا پالیسۍ د اسلامي ارزښتونو د ترویج، د اسلامي اصولو د روښانه کولو، او د ملت فکري خودمختارۍ ته ځانګړې پاملرنه کوي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د رسنیو د تنظیم لپاره ځانګړي تدابیر نیولي، ترڅو د غربي فرهنګي نفوذ، بې‌بنیاده تبلیغاتو او د کفري تمدن د ترویج مخه ونیول شي. د اسلامي تعلیماتو د عامولو لپاره، امارت د راډیو، تلویزیون، چاپي او برښنایي رسنیو او ټولنیزو شبکو له لارې پراخې هلې ځلې کړي، ترڅو د اسلامي شریعت اساسي اصول، د اسلامي خلافت ارزښتونه او د شرعي نظام عادلانه بنې خلکو ته واضح شي. د بېلګې په توګه، د ملي راډیو او تلویزیون خپرونې له اسلامي ارزښتونو ډکې دي، چیرې چې دیني عالمان د شریعت احکام توضیح کوي، د اسلامي تاریخ اتلان معرفي کېږي او د اسلامي نظام برکتونه خلکو ته ښودل کېږي. همداراز، د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د غربي رسنیو د یرغل پر ضد، د حقایقو د سپیناوي لپاره رسمي بیانیې خپروي، د کفري پروپاګند د ردولو لپاره علمي مقالې لیکي او د دروغجنو تبلیغاتو پر ضد معقول او مستند ځوابونه وړاندې کوي. د بېلګې په توګه، که غربي رسنۍ د اسلامي امارت د شرعي نظام په اړه ناسم تبلیغات وکړي، وزارت یې پر وړاندې د اسلامي اصولو پر بنسټ علمي ځوابونه چمتو کوي او د نړیوالو رسنیو له لارې یې تر نړیوالو غوږونو رسوي. د ملي او اسلامي فرهنګ د ساتنې لپاره، د فرهنګي ودې پروګرامونه طرحه شوي، چې د اسلامي تمدن، ملي ارزښتونو او دیني عنعناتو د خوندي ساتلو لپاره ځانګړې تګلارې لري. د تاریخي آثارو د ساتنې لپاره جدي اقدامات شوي او د افغاني اسلامي فرهنګ د ودې لپاره د فرهنګي مرکزونو ملاتړ کېږي. د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د ټولنیزو شبکو د سمون او مدیریت لپاره هم ځانګړي تدابیر نیولي، ترڅو د اسلامي دعوت، علمي معلوماتو او د شریعت د حاکمیت د توضیح لپاره موثر کار ترې واخلي. د بېلګې په توګه، د امارت رسمي ټولنیزې پاڼې د اسلامي دعوت، اصلاح او د حقیقت د بیان لپاره کار کوي، ترڅو د خلکو افکار د اسلامي ارزښتونو پر لور سوق کړي. په ټوله کې، د اسلامي امارت اطلاعاتي او فرهنګي پالیسۍ د دیني، فکري او کلتوري خپلواکۍ لپاره عملي اقدامات دي، چې موخه یې د اسلامي نظام تقویه، د فکري جګړې دفع کول او د کفري تمدن د نفوذ مخنیوی دی.

رسنۍ د فکري جګړې له ټولو مهم ډګر دی، چیرې چې د حق او باطل ترمنځ فکري مبارزه روانه ده. اسلامي امارت د دې اړتیا درک کړې او هڅه یې کړې چې اسلامي فکري رسنۍ پیاوړې کړي، ترڅو د اسلامي فکر د ترویج، د شریعت د کامل تطبیق او د کفري تبلیغاتو د ردولو لپاره مؤثر رول ولوبوي. قرآن کریم په متعددو آیتونو کې د حق بیانولو، د باطل ردولو او د خلکو د فکري اصلاح اهمیت ته اشاره کړې، لکه چې الله تعالی فرمایي: (الإسراء: ۸۱)؛ یعنې « ووایه چې حق راغی او باطل له منځه ولاړ، بېشکه باطل له منځه تلونکی دی.» دا آیت د رسنیو د اساسي هدف بیان کوي، چې حق بیان کړي او د باطل تبلیغات دفع کړي. اسلامي امارت د راډیو، تلویزیون، چاپي او برښنایي رسنیو او ټولنیزو شبکو له لارې د اسلامي تعلیماتو عامولو ته ځانګړې پاملرنه کړې، ترڅو د اسلام پیغام له تحریف پرته خلکو ته ورسېږي. همداراز، د غربي رسنیو د تحریف شویو معلوماتو د ردولو لپاره د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت له لارې مستند وضاحتونه وړاندې کېږي، لکه څنګه چې الله تعالی فرمایي: (البقرة: ۴۲)؛ یعنې« حق له باطل سره مه ګډوئ او حق مه پټوئ، حال دا چې تاسو پوهېږئ.» نو اسلامي امارت د همدې قرآني لارښوونو پر بنسټ، د رسنیو له لارې د حقایقو سپیناوی کوي، د تبلیغاتي جګړې پر وړاندې اسلامي دریځ روښانه کوي او د اسلامي فکر د ساتنې لپاره د شرعي تعلیماتو ترویج ته جدي توجه لري. د دې لپاره د امارت رسمي رسنۍ د اسلامي نظام د وضاحت، د دیني پوهاوي د زیاتوالي او د شرعي اصولو د تبیین لپاره ځانګړې خپرونې لري، چې د اسلامي فکر د ساتنې او د فکري جګړې پر وړاندې د مبارزې قوي وسیله ګڼل کېږي.

همداراز اسلامي امارت یوازې دفاعي دریځ نه لري، بلکې د اسلامي اطلاعاتي جګړې د لا پیاوړتیا لپاره یې هدفمند اقدامات کړي، تر څو د اسلامي فکر، اقتصاد، سیاست او قانون اړوند علمي، فکري او تحلیلي مواد چمتو او خپاره کړي، چې دا د اسلامي دعوت یوه مهمه برخه ده. الله تعالی فرمایي: (الفرقان: ۵۲)؛ یعنې « له دوی سره په دې (قرآن) لوی جهاد وکړه» چې دې ته د علمي او فکري جهاد اشاره کېږي. اسلامي امارت د دې آیت په رڼا کې د فکري جګړې د تقویې لپاره علمي مقالې، کتابونه، څېړنې او د اسلامي تمدن د برلاسۍ...

٦ مخ



د ملتونو په بقا او زوال کې د اخلاقي قوت تأثیر

خلیل الرحمن احمدي

اسلامي اخلاق هغه ستر قوت دی چې د تل لپاره یې اسلامي امت قوي، پاک او متحد ساتلی دی او په هره سیمه، زمانه او هر ولس کې چې اسلامي اخلاق رعایت شوي، هلته مسلمانان د کفارو په مقابل کې قوي پاتې شوي دي. څکه خو د عربي نړۍ وروستی امیر الشعراء احمد شوقي وایي:

انما الامم اخلاق ما بقیت

فان همو ذهبت اخلاقهم ذهبوا

ترجمه: د ملتونو بقاء پر اخلاقو ولاړه ده، که چېرې یې اخلاق له منځه لاړ شي دوی هم له منځه ځي.

په بل شعر کې وایي:

و اذا اصیب القوم في اخلاقهم

فاقم علیهم ماتما و عویلا

ترجمه: کله چې یو ملت په اخلاقي لحاظ کمزوري شي، نو د مرګ ماتم او ژړا پرې وکړئ.

له همدې امله خو کفار په هره زمانه کې کوښښ کوي چې د مسلمانانو د اخلاقو په فاسدولو هڅوي په معنوي لحاظ کمزوري او په سیاسي او عسکري لحاظ پاشلي او پخپلو کې سره په اختلافاتو کې اخته کړي، ترڅو د دوی مقابله ونه کړای شي.

> نن ورځ که د اسلامي نړۍ حالت ته وګورو، نو وینو چې لویه برخه مسلمانان په اخلاقي، فکري، فرهنګي او اجتماعي لحاظ له خپلو اسلامي ارزښتونو او معیارونو لرې شوي او په پردیو پسې روان دي، چې همدا د دې زمانې د مسلمانانو د کمزورۍ له ټولو لوی عامل دی.

نن ورځ که د اسلامي نړۍ حالت ته وګورو، نو وینو چې لویه برخه مسلمانان په اخلاقي، فکري، فرهنګي او اجتماعي لحاظ له خپلو اسلامي ارزښتونو او معیارونو لرې شوي او په پردیو پسې روان دي، چې همدا د دې زمانې د مسلمانانو د کمزورۍ له ټولو لوی عامل دی.

نن په اسلامي نړۍ کې د کفري جهتونو له ټولو ډېر مصارف پر دې کېږي چې څنګه په مسلمانانو کې هر ډول بد اخلاقي خپره کړي او د همدې هدف لپاره یې د فلم جوړولو کمپنۍ، تلوېزیونونه، راډیوګانې، انټرنېټي او سټالیټي رسنۍ، د فیشن کمپنۍ، فستیوالونه، د ساعت تېرۍ او خوشګذرانۍ پارکونه، ساحلونه، مېله ځایونه، هوټلونه، فلمي سیریالونه، موسیقي، تیاترونه، عشقي او جنسي ناولونه، لوڅ ادبیات، د ښځو د آزادۍ او له نارینه وو سره د مساوات او اختلاط غوښتنې تحریکونه، د حجاب مخالفت، غربي ډوله لباسونه، په هر څه کې د ځوانو ښځې دخیلول، د همجنسګرایۍ خپرول او قانوني کول، جنسي تجارت، د شرابو او نورو مخدراتو عامول، په بېلابېلو ډولونو د قمار رواجول، نایټ کلبونه، لوبې، سیمه ییزې او نړیوالې مسابقې او نور په سلګونه ډوله وسائل رامنځته کړي دي، چې د دې هر څه په نتیجه کې د اسلامي نړۍ ځوان نسلونه له خپلو ارزښتونو او اخلاقو پردي شوي او په غرب پسې روان دي.

افغانان هم له پورتني یاد شوي وضعیت څخه مستثنی نه دي، بلکې همدغه وضعیت په متفاوتو درجو د افغانستان په کلیو او ښارونو کې هم دی چې مخنیوی او اصلاح یې بیا هم د اسلامي حکومت، علماوو او د مدرسې د منسوبینو مکلفیت دی چې باید په ښه ډول یې تر سره کړي.

اسلامي نظام، علماوو او د مدرسې منسوبینو ته د بد اخلاقۍ د دغه طوفان په خلاف هراړخیزه مبارزه او په ولس کې د اسلامي اخلاقو خپراوی او د یوې مذهبي او متمدنې ټولنې رامنځته کول هغه وخت ممکن کېږي چې په جدي، سنجول شوي او دوامدار ډول لاندې دوه کارونه ترسره شي:...

٦ مخ

محیط سبز؛ زندگی راحت

احمد

افغانستان از جمله کشور های است که آب مورد ضرورت خود را همواره از کوه های سربه فلک کشیده خود تأمین می کند که این خود یکی از ویژگی های این سرزمین است، زیرا درجهانی که مازندگی می کنیم، بزرگترین معضل کمبود آب شرین است که خوشبختانه ما دسترسی ساده وبدون دغدغه یی به این آب ها داریم که می شود با مدیریت دقیق وکارا هم از آب های خود در راستای گسترش زراعت وایجاد باغها وجنگلات استفاده کنیم وهم در وسعت وادی های شاداب وسرسبز نیزکا های موثری را انجام دهیم ،اما با تاسف حکومت های گذشته به این شاخص ها هیچگاهی توجه چندانی نکرده و در گسترش وادی های سرسبز وشاداب ،همچنان خود کفایی زراعتی وتاسیس جنگلات و...کار های زیربنای را انجام نداده اند ، هرچند دلایل متعددی در این راستا وجود دارد که می شود از ادامه وتحمیل جنگ های خانمان سوز و عدم توجه شهروندان به این ویژگی ها یادآوری کنیم، اما به هر حال فرصت های طلایی به هدر رفت که می شد شهروندان ما درتبانی با نظام ها، این معضلات را برطرف می کردند، زیرا افعانستان با داشتن دشت های بایر وحاصلخیز امروز نه تنها از لحاظ غله باب وحبوبات به خود کفایی می رسید، بلکه از جمله کشور های صادر کنند نیز عرض اندام می گردد.





خوشبختانه بعد از حاکم شدن امارت اسلامی در افعانستان بزرگترین کانال آبی قوشتیپه که سالها پیش به یک رویا تبدیل شده بود، این نظام توانست به یاری پروردگار وهمکاری شهروندان این رویا را به واقعیت تبدیل کند که امروز شاهد کارعملی این کانال هستیم که با تکمیل شدن فاز اول، شاهد تکمیل شدن فاز دوم آن نیز خواهیم بودکه با تکمیل شدن این کانال، دشت های بایر وحاصل خیز مناطق شمال شرقی کشور زیر آب شده ، شادابی وسرسبزی بی مثالی را به بار خواهد آورد که با بهره گیری این کانال در کوتا مدت، نه تنها از جمله صادر کنندگان غله وپیدا وار زراعتی به خارج از کشور خواهیم بود، بلکه شاهد شادابی وسرسبزی سواحل این کانال ومناطق اطراف آن نیزخواهیم بود ، زیرا امروز اگر کشور های صنعتی جهان دست به تخریب ساحات سبز وجنکلات وسیع...

ص٦

ټاپي پروژه د اسلامي امارت د لومړۍ دورې نوښت و



حيات الله حليم

داچې د افغانستان له لارې د هندوستان او پاکستان په لورد ټاپي د نل لیکي (د ګازد لېږد پایپ لاین) غځونه ځرنګه د اسلامي امارت د لومړۍ دورې نوښت ګڼلی شو، ځواب روښانه دی، ځکه د دې نل لیکي لومړنۍ طرحه د اسلامي امارت په لومړۍ دوره کې جوړه شوې وه ، اسلامي امارت ورسره منلې او دا اجازه یې ورکړې وه چې د افغانستان له جغرافیا دا نل لیکه تېره شي ، خو داچې د تطبیق چارې یې ولې تر ۲۰۲۴ میلادي کال پورې را وځنډېدې؟ بیا هم ځواب روښانه دی، ځکه کله چې په افغانستان کې د امریکا او د ناټو د غړوهېوادونو له اجازې پرته درزغوبل اونظامي مداخله پیل شوه، نو یاده پروژه وځنډېده ، نه یوازې د ټاپي پروژه، بلکې ټاپي ته د ورته نورولویو پروژو د تطبیق چارې هم د ځینوسیاسي اونظامي ملحوظاتو پربنا وځنډېدې، ځکه د اسلامي امارت له خوښې او اجازې پرته د داسې پروژو تطبیق د افغانستان په خاوره کې مداخله ګڼل کېده او افغانستان د هغه چا کور اوملکیت ګڼل کېده چې د یرغلګرو په وړاندې جنګېدل، نوځکه د ټاپي پروژې کارونه هم د امارت ترمجددې واکمنۍ پورې را وځنډېدل خو په ۲۰۲۴ م کال د یادې پروژې د تطبیق چارې له سره د افغانستان په جغرافیا کې له ترکمنستان څخه را پیل شوې او اوس یې کارونه په درز پرمخ روان دي، د ګازد لېږد دا پروژه چې له یاد هېواد څخه د ۱۸۱۴ کیلومتره په مجموعي اوږدوالي پیل شوې اوس د افغانستان په خاوره کې ترشپږو کیلومترو پورې پرمختللې. همدارنګه پنځه زره متره نورد ګازو د لېږد پایپ لاین هم د تطبیق ساحې ته رارسېدلی دی، په افغانستان کې دا پایپ لاین د ۸۱٦ کیلومترو په اوږدوالي د لوېدیځ اوسهیل لوېدیځ ولایتونو لکه هرات، فراه ، نیمروز، هلمند او قندهارله لارې د کوېټې په لورتېرېږي، وروسته بیا ملتان او له هغه ځایه به هندوستان ته رسېږي، د ټاپي پروژې په جوړېدو به په مجموعي ډول دوه ویشت نیم ملیارده ډالره لګښت راځي اود یوه کال په ترخ کې به د افغانستان ، پاکستان اوهند لپاره ۳۳ بیلیونه متره مکعبه ګاز انتقالوي، افغانستان به هرکال له یادې پروژې د ترانزیت له پلوه ۴۰۰ میلیونه ډالرعواید ترلاسه کوي او ترڅنګ به یې د پایپ لاین له لارې په لومړۍ لسیزه کې پنځه میلیونه متره مکعبه ګاز هم افغانستان ته ورکول کېږي چې دا رقم به دویمه لسیزه کې یوبیلیون متره مکعبو ته لوړېږي اوپه دریمه لسیزه کې به یونیم بیلیون متره مکعبه د اړتیا وړګازپه ارزانه او پریمانه ډول افغانستان ته ورکول کېږي، که څه هم د ټاپي د نل لیکې په وړاندې د ځلور واړو هېوادونو ترمنځ زیات چلینجونه موجود وو چې



له نیکه مرغه دا چلینجونه اوس ټول برطرف اوکنټرول شوي دي. ددې خبرې یادول هم اړین دي چې افغانستان هم یو ګازلرونکی هېواد دی، پنځه ځلوېښت کاله د مخه یې ګازد یوه پایپ لین په ذریعه د وخت شوروي اتحاد ته صادرېدل، همدارنګه د مزارشریف په ښارکې د کود او برق فابریکه هم پرې چالانه وه، خودا پروسه د شوروي له نظامي مداخلې وروسته بیا تر اوسه پورې په ټپه ودرېده ، که زموږ ګازپه نړیوالو موازینو برابر استخراج شي، کېدای شي د ټاپي نل لیکې ترڅنګ زموږ ګازهم بهرنیوهېوادونوته صادرشي.

د ټاپي نل لیکې بله لویه ښېګڼه داهم ده چې په زرګونو افغانان به په دې پروژه کې کاري فرصتونه ترلاسه کړېږ ځکه له اوو، زروڅخه ترلسو، زرو پورې ساتونکي به په دې پروژه کې استخدام شي

چې په دې سره به نه یوازې کاري فرصتونه برابر شي، بلکې د سون د نوروضمني توکو بیې به هم را ولوېږي اوکېدای شي په اوږده مهال کې افغانان له ګازڅخه د ترانسپورت په برخه کې هم ګټه پورته کړي، لکه د مخه چې وویل شول، بله لویه ښېګڼه یې داده چې په زرګونو افغانان به په دې پروژه کې استخدام شي، ځکه له اوو، زروڅخه ترلسو، زرو پورې ساتونکي به په دې پروژه کې استخدام شي، د ګازي انرژۍ د پورتنۍ پروژې ترڅنګ د (ټوټاپ) په نامه د برښنا د لېږد، دیوې بلې پروژې په اړه هم خبرې نهایي شوی دي ، دا پروژه هم د ۵۰۰ میګاواټه برښنا د لېږد پروژه ده چې له ټاپي سره موازې به له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې د پاکستان خاورې ته ځي، ددې پروژې دډیزاین چارې د (فیشنر) په نوم د یوه الماني شرکت له خوا ډیزاین او پای ته رسېدلې وې.

ترڅنګ یې د کاسا ۱۰۰۰د برښنا د لېږد پر، پروژه هم موافقه شوې ده، یاده پروژه د هېواد په ختیځ کې د۱۲۲۲ کیلومترو په اوږدوالي ...

٦مخ

شگردهایی از تاریخ جهان

استوار

به غرض اینکه بیشترینه ی تاریخ تحت حاکمیت وصلاحیت های حاکم رقم خورده است امروز علم تاریخ دنبال چراهاست. به منظور وضاحت و در روشنی قرار گرفتن حقایق پژوهش وتحقیقات از سوی مورخین به غرض برچیدن طامات وبرملا نمودن واقعیت ها از صفحه ی زوایای تاریخی رویهمرفته ادامه دارد که باید هم ،چنین باشد زیرا کتمان حقایق وپرده افگندن بر روی آن نابرابریست که جفا به گذشته بشریت محسوب می‌شود. اصطلاح قیمومیت ، استعمار،تسخیر و... که در ادوار مختلف تاریخ تحت عناوین مختلف از سوی کشورهای ابر قدرت و زور مند، جوامع ضعیف تحت فشار قرار داده شد وخلاف موازین جهانی چنین تعدی وتجاوزهای ظالمانه صورت گرفته است.

هر رویداد تاریخی در جوامع بشری سوا از علت وعوامل نبوده است. حتی در بعضی موارد بهانه جویی هایی شعبده بازانه مطرح گردیده تا رسیدن به اهداف مغرضانه که در کل تمام عملکرد ها پیوند ناگسستنی به منافع داشته است اگر کوتاه نگرشی داشته باشیم به علت وعوامل جنگ های اول ودوم جهانی وپیامد های ناگوار آن در خواهیم یافت که منافع و خود کامه گی بیشترینه در میان مطرح بوده است. پس از ختم جنگ اول جهانی در سال ۱۹۱۸ که فرانسه و انگلستان به حیث دو ابر قدرت عرض وجود کردند به منظور سلطه طلبی ومنافع به هر گوشه از جهان تجاوز وسلطه جویی کردند تاحدی که دو ابر قدرت میان هم در تقسیم کشور های زیر دست واستعمار شده جور آمد وسازش میکردند . مثال زنده اش هند برتانوی و کشور های اطراف آن همچنان پس از ختم جنگ دوم جهانی در سال ۱۹۴۶ و روی کار آمدن امریکا و روسیه به حیث دو ابر قدرت تا اکنون جنگ ها شکل نیابتی به خود گرفته و تقسیمات روی منافع ومعامله گری ها به نحوی از انحا در عقب پرده ادامه دارد. تمام جهان باید بداند که میداند کشور های قدرتمند همیشه دنبال اغراض ونیات شوم خویش بوده هیچگاهی در گفتار خویش صادق نبوده و میکوشند از طرق مختلف امتیاز طلبی ویکه تازی نمایند. پس باید سیاسیون و رهبران جهان جلو معامله گری ها و یکه تازی این قلدران را گرفته اجازه ندهند برسرنوشت کشور های جهان بازی نمایند. طوری که در بالا ذکر شد تاریخ گواه شعبده بازی های مکارانه متجاوزین بوده و واقعیت ها را برملا می‌سازد وچادر را از روی ظالمان برمیدارد.

افغانستان از وابستگی تجارتی به کشور خاصی رهایی یافت

عزیزی

خوشبختانه که کشور ما کالاهای تجارتی و مواد مورد نیاز خود را از کشور های مختلف وارد می کند و از وابستگی تجارتی به کشور خاصی رهایی یافته است. زیرا افغانستان یک کشور



محاط به خشکه می باشد و به راه های بحری دسترسی ندارد،تاجران کشور اکثراً صادرات و واردات افغانستان را از طریق بندر کراچی پاکستان انجام می دهند،اما تاجران ما هنگام ترانزیت اموال شان از بندر کراچی به افغانستان از طرف موظفین پولیس این کشور دچار مشکلات زیادی می شوند.روزها،هفته ها و حتا ماه ها کانتینرهای مواد غذایی و سایر کالاهای تجارتی در بندر کراچی توقف داده شده تا سرحدی که مواد غذایی،میوه جات تازه،سبزیجات تازه و سایر مواد مورد ضرورت پوسیده شده و از استفاده خارج گردیده و از همین ظلم تاجران کشور ما میلیونها دالرامریکایی متضرر و خساره مند گردیده اند. در همین روز های گذشته ما شاهد هستیم که مسئولین پاکستاني بندر تورخم به بهانه های مختلف بندر را مسدود ساخته که یک ضربه سنگین و کمرشکن بالای تاجران افغان وارد گردیده است. و اکثراً مسئولین دولت پاکستان به تعهداتی که در زمینه ترانزیت اموال و کالاهای تجارتی با افغانستان دارد هیح گاهی صادقانه عمل نکرده و از تاجران به حیث حربه سیاسی بالای افغانستان کار می گیرد.این کار مسئولین پاکستان باعث کندی رشد تجارت و اقتصاد افغانستان گردیده است.

افغانستان در بخش تجارت با هیچ کشور مشکل ندارد و وابسته به کشوری خاص نمی باشد و دیگر زمان آن گذشته که کشور ها برای استفاده جویی سیاسی،اقتصادی و تجارت افغانستان را تحت فشار قرار بدهند. هر چند پاکستانی ها چند روز میشود که گذرگاه تورخم را به روی وسایط تجارتی افغانستان بسته نمودند،اما برعکس گذشته هیچگونه تاثیری در قیمت مواد خوراکی در بازار های افغانستان بوجود نیآمده .

شماری از کارشناسان امور اقتصادی و تاجران به این باور اند که بدیل های زیادی برای تجارت افغانستان ایجاد شده و بندر چابهار نیز جایگزین بندر «واگه» کراچی شده است.به نظر آنان هر چند بندر کراچی در ترانزیت کالاها هزینه کمتری به دوش تاجران می گذارد و افغانستان از نظر راه های ترانزیتی دیگر وابسته به یک کشور خاص نبوده و آسیب پذیری اقتصادی از ناحیه اعمال سیاست های کشورها به ویژه پاکستان نیز کاهش قابل ملاحظه یی یافته است.

بنابر ضرورت شدید افغانستان به دسترسی به آب های آزاد جهان امارت اسلامی افغانستان مکلف است که راه های بدیل برای صدور و ورود اموال تجارتی کشور پیدا کند،یگانه راه بدیل بندر کراچی همانا بندر چابهار ایران می باشد که این بندر افغانستان را مستقیماً به آب های آزاد دنیا وصل می کند و باعث رشد و رونق تجارتی می گردد. کشور های آسیای میانه مانند ترکمنستان، ازبیکستان،قرغزستان و قزاقستان نیز می توانند از طریق افغانستان به بندر چابهار وصل گردند.بندر چابهار در سواحل بحرهند و دریای عمان موقعیت دارد و یکی از مناطق آزاد تجارتی می باشد که قابلیت کشتی رانی در آن موجود است.یگانه بندری که آسان ترین راه و راه بردی ترین راه دسترسی به آب های آزاد کشور های خشکه مانند افغانستان،ترکمنستان،تاجکستان و قرغزستان می باشد.

چابهار از اهمیت فراوان تجارتی برخوردار است تا حال از جانب تعدادی از کشور ها سرمایه گذاری و سازندگی زیادی در این بندر صورت گرفته است.بدون شک صادرات کشور...

ص۶

راستنو شویو کډوالو ته کاري فرصتونه رامنځته کېږي

شاه محمود درويش

په افغانستان کې د تېرو کابو څه باندې څلورنیمو لسیزو جګړې د دوام له امله سره له دې چې افغان پتمن ولس ته یې نه جبیره کېدونکي ځاني او مالي زیانونه اړولي، د دې ترڅنګ زموږ په میلیونونو تنه هېوادوال یې د ګاونډیو هېوادونو لکه پاکستان، ایران، تاجکستان او ترکیې په ګډون د نړۍ ګڼ شمیر هېوادونوته د کډوالۍ تریخ اوستونزمن ژوند ته هم اړکړي چې په دی ترځ کې زیاتره افغانان پاکستان اوایران ته کډه شوي او له یو لړ ستونزو سره سره ترننه پورې دیادو هېوادونو د امنیتي ارګانونو له خوا په ډول ډول پلمو او بهانو تل وهل او ټکول کېږي، ځوروي یې، آن زندان ته یې اچوي اوپه ډېر بد حالت کې د هرراز قوانینو پرخلاف له کورنیو سره یوځای او یا هم په یوازې ډول په اجباري او غیرانساني توګه افغانستان ته را شړل کېږي او تل له افغان کډوالو څخه د سیاسي فشار په توګه ګټه پورته کوي. دبیلګې په توګه د هرډول نړیوالو اصولو خلاف افغان کډوال چې په ګاونډي هېواد ایران، پاکستان او... کې ژوند کوي دوی تل د کال په مختلفو موسمونوکې د هر ډول انساني اصولو خلاف په اجباري توګه افغانستان ته را شړل کېږي اوهمدا اوس هم دا لړۍ عملاً دوام لري اوهره ورځ ګڼ شمیر افغان کډوال په زور او جبر او ډېر بد حالت کې له ګاونډیو هېوادو ایران او پاکستان څخه هېوادته را شړل کېږي.

خو په ټوله کې باید وویل شي چې دکډوالو په چارو کې دملګرو ملتونو دعالي کمیشنرۍ دپالیسي له مخې افغان کډوال باید خپل هېواد ته په تدریجي او آبرومندانه توګه را ستانه کړای شي، نه په اجباري



اوغیرانساني ډول، خو سره له دې هم یو شمیرافغان کډوال چې له نورو ملکونو څخه هېواد ته را ستنیږي ډېره اړینه او ضروري هم بیا دا ده چې راستنیدونکو کډوالوته باید په هېواد کې دننه د ورځني ژوند دپرمخ بیولو اوسالمې بوختیا په موخه دکار لازم شرایط اوښه زمینه مساعده شي ترڅو چې په ورځني ژوند کې دوی او د دوی کورنۍ له زیاتو ستونزو سره مخ نه شي، بلکې آبرومندانه ژوند اختیار کړي.

هېره دې نه وي چې هېواد ته یوشمېر راستانه شوي افغان کډوال هم وایي؛ چې د کار او عاید د نشتوالي له امله په سختو اقتصادي شرایطو کې خپلې شپې او ورځې تېروي، نو اړینه ده چې په ټوله کې هېواد ته راستنو شویو هېوادوالوته باید د ورځني ژوند د پرمخ وړلو لپاره د اسلامي امارت د اړوندو مسؤلو مراجعو له لورې په هراړخیز ډول د سالمو بوختیاوو زمینه ...

6مخ

د ټولنې په پېژندلو کې د ادب او شعر ونډه

نوري

د ادب ارزښت تر ډېره بریده پر شعر ولاړ دی، ادب او شعر موږ د ټولنې په نبض او پېژندلو پوهوي، د ټولنې درد را په ګوته کوي، چې وروسته پرې پوهان د تسکین پټی ږدي. انسان پټو او مرموزو خبرو ته په فطري ډول لېوال او تږی دی، ادب دغه تنده مړوي، د تېرو تمدنونو او ملتونو په اړه معلومات راکوي، موږ د خوشال خان په شعرونو کې د اورنګ زیب د وخت اړتیاوو باندې ښه پوهېدلی شو، خوشال خان څلور سوه کاله پخوا د پښتنو پر بې اتفاقۍ ساندې ویلي دي، د دوی مېړانه یې ستایلې؛ خو د دوی په ناپوهۍ یې افسوس کړی دی، که پنځه سوه کاله وروسته هم څوک دغه لیکنې ولولي د نننۍ افغانستان د واقعیتونو او ناخوالو هنداره شمېرل کېدای شي. پر دې سر بېره ادب او شعر له موږ سره د بشري طبیعتونو په لا پېژندلو کې مرسته کوي .ادب پوهانو د امان الله خان د ژوند په هسکو او ژورو څېړنې کړې دي، تر څو د هغه د ژوند او مړینې کلونه روښانه شي او د ادب او شعر د مینوالو تنده پرې خړوبه شي.موږ هم په خپل وار سره هڅه کړې، چې کره معلومات د لوستونکو په واک کې ورکړو، چې ترې ګټه پورته کړای شي.امان الله سیلاب ساپی د خدای بخښلي وکیل شهید نصرالله خان ساپي زوی او د مرحوم مفتي عبدالغفور خان لمسی پر ۱۳۱۲ لېږدیز لمریز کال د ننګرهار ولایت د کامې ولسوالۍ په غازي کلي کې زیږیدلی دی. ده لومړني درسونه په خپل کلي او کورنۍ کې ولوستل او بیا د اخوند کلي په ښوونځي کې شامل شو. پر ۱۳۲۵ ل کال یې لومړنۍ زده کړې په دغه ښوونځي کې په بري سره پای ته ورسولې. له دې وروسته یې شپږ کاله خصوصي زده کړې وکړې. په دې خصوصي زده کړو کې یې د فقهې اصول، تفسیر، حدیث، صرف، نحو، بدیع، بیان، قافیه، منطق او حکمت کتابونه ولوستل. امان الله سیلاب ساپی پر ۱۳۳۱ ل کال په کابل کې د قاضیانو مدرسې په دویم ټولګي کې شامل شو. بیا د همدې مدرسې له دریم ټولګي څخه د عربي دارالعلوم نهم ټولګي ته ولاړ. پر ۱۳۳٦ ل کال یې دا دارالعلوم په بري سره سرته ورساوه او بیا یې د هېواد په دولتي ادارو کې په کار پیل وکړ. د ده لومړنۍ دنده د افغانستان په عدلیې وزارت کې وه. په دغه وزارت کې تر څه وخت کار وروسته د افغانستان د ترانسپورټ ریاست ته ولاړ. د دې ریاست په مربوطاتو کې یې هم د عمومي مدیریت تر رتبې پورې کار وکړ. له دې ریاسته د قبایلو د مستقل ریاست مربوطاتو ته ولاړ. په دې ریاست کې هم څه موده بوخت وو. له دې وروسته راډیو افغانستان ته ولاړ او بیا د ژوند تر پایه په راډیو کې پاتې شو. که څه هم سیلاب ساپي له پخوا نه په شعر ویلو پیل کړی و. په دارالعلوم کې یې د زده کړې په موده کې ادبي استعداد غځونې وکړې. کله یې چې په کار پیل وکړ شعر یې د پخواني او هنري تابه پړاوونه ووهل او چې کله په راډیو افغانستان کې پر دنده وګومارل شو د افغانستان په فرهنګي کړیو کې د یو غزلبول شاعر په توګه وپېژندل شو. د راډیو افغانستان په ادبي پروګرامونو کې د ده د غزلو او لیریکو شعرونو خپرېدو د افغانستان او ورسره د نورو پښتنو په ګڼو پرګنو او ولسونو کې د ده له پېژندګلوۍ او شهرت سره ډېره مرسته وکړه. دا وخت یې په پېښور او نورو ځایونو کې په فرهنګي او هنري غونډو کې برخه اخیسته. سیلاب ساپي د راډیو په څانګو کې د کار په موده کې ځینې مشاعرې هم په کتابي شکل چاپ ته چمتو کړې. (د اجمل په یاد مشاعره) او (د خیبر آواز) د ده د دغه ډول کارونو بېلګې دي. دا هم د یادولو وړ ده، چې د افغانستان ګڼ شمېر ترانه ویونکو د امان الله سیلاب ساپي ګڼ شمېر شعرونه کمپوز کړي او د ټنګ ټکور په څپو کې یې ترې ترانې جوړې کړې، چې د ملي راډیو په ارشیف کې خوندي دي. د سیلاب ساپي شعرونه او ترانې د هېواد په مطبوعاتو کې خپرې شوي . د شپیتمو کلونو په اوږدو کې ښاغلی سیدجان ملال د سیلاب ساپي د غزلونو یوه ټولګه چاپ ته ...

۶مخ

د کرنیزو توکو په کرکیله کې تنوع کروندګرو ته د غوره ګټې امکانات برابروي

حکیمي

د دې لپاره چې د خوراکي توکو امنیت پرځای وي، انسان باید د خوراکي توکو له بیلابیلو ډولونو څخه ګټه واخلي. که چیرته یو ډول خواړه، د بدن د اړتیا یوه برخه پوره کولای شي، مګر ځینې نور یې بیا دبدن د اړتیا وړ نورې برخې خوندي کوي. ددې لپاره چې ډاډه شو، چې د بدن د اړتیا وړ انرژي، پروتین، ویټامین او منرالونه باید زموږ بدن ته ورسیږي، نو باید د خوراکي توکو له بیلابیلو ډولونو څخه ګټه واخیستل شي.

د اسلام په مبین دین کې هم په کښت او هم د خوراکي توکو، لکه: حیواني، نباتي، سمندري او داسې نورو برخو کې د تنوع غوښتنه شوې ده. مسلمان انسان کولی شي، چې حرامو او حلالوته په پام سره له هر ډول خوراکي توکو څخه په ښه ډول ګټه واخلي. قرآنکریم هغه کسان په کلکه محکوموي، چې یو شمیر خواړه یې پر ځان حرام کړي دي. قرآنکریم په دې برخه کې په دې اړه فرمایلي: (دالمائده سورت: ۸۷ ایت)
ژباړه: «اې هغو کسانو چې تاسو ایمان راوړی دی، هغه پاک څیزونه، چې الله تعالی ستاسو د ګټې لپاره تاسو ته روا کړي دي، حرام مه ګڼئ او له حد څخه تیری مه کوئ، ځکه الله(جل جلاله) له حد څخه تیري کوونکي کسان نه خوښوي. همدارنګه تنوع او بیلابیل والی او د ډول ډول میوو، باغونو او ونو ورته والی د الله تعالی له نعمتونو څخه ګڼل کیږي؛ په دې اړه الله تعالی فرمایلي دي: (د الانعام سورت: ۱٤۱ ایت)

ژباړه: « او الله هغه ذات دی، چې د ونو مخ پوره(هسک) او پر ځمکه پراته خپاره(د انګورو) باغونه پیدا کړي دي او کجوري(خرما) او کښتونه یې زرغون کړي دي، چې له هغو څخه راز راز خواړه ترلاسه کیږي او د ښوون(زیتون) او انارو ونې یې پیدا کړې دي، چې د هغو میوې په رنګ سره ورته او خوند کې بیلې وي. د هغو له پیداوارو څخه وخورئ، چې کله میوه ونیسي او د الله حق اداء کړئ، چې کله یې فصل وریبئ او له حده تیری مه کوئ، ځکه چې الله له حده تیریدونکي نه خوښوي. الله تعالی(جل جلاله) په دې مبارک آیت کې د مسکینانو او مستحقو خلکو د حقونو د ورکړې او د اسراف نه کولو په صورت کې د بیلابیلو نعمتونو او میوو څخه د ګټې اخیستنې امر کړی دی. د قرآنکریم په(عبس) مبارک سورت کې د اته ډوله خوراکي توکو یادونه شوې ده، چې د اسلام د پاک دین دا برخه، خپله هم د خوراکي توکو د رنګارنګۍ او تنوع د ارزښت په برخه کې بسنه کوي. دا چې د اسلام دین یو فطري دین دی، نو د بشر ټولې فطري اړتیاوې، له افراط او تفریط پرته د آسماني خارق العاده قانون سره سم، د هغوئ د ګټو خوندي ساتلو ته په پام سره، د اعتدال په ښه پوره کړې دي. د میوو، سبزیو، حبوباتو له ډولونو، همدارنګه د هغوی د ګټو یادونه او همداراز یو له بل څخه د هغوی د ښه والی او ګټورتیا ذکر، زموږ د دغې ادعا لپاره له ټولو یو ښه ثبوت کیدای شي. دخوراکي توکو بیلابیل والی او رنګارنګي د انسان د بدن د روغتیا ساتلو لپاره یوازینی لامل نه شي کیدای، بلکې یو شمیر نور معیارونه هم شته، چې باید له دې رنګارنګي سره یو ځای شي، ترڅو چې د خوراکي توکو ګټورتوب تضمین شي. د اسلام مبین دین ددې اصل د معیارونو د رعایت مکرره یادونه کړې او په هغه یې ټیګار کړی دی؛ د بیلګې په ډول: د نظافت، پاکوالی، په خوراک او څښاک کې برابری، د عمر او روغتیایي حالت له مخې د یو شمیر خوړو ځانګړې کول او داسې نور...

۶مخ

اسلام او د کائناتو مطالعه

ادریس سنګر

اسلام د علم، تفکر او تحقیق دین دی. د قرآن کریم مختلف آیتونه د طبیعت، فضا او د کائناتو د رازونو مطالعې ته دعوت ورکوي. ساینس او ټکنالوژي د کائناتو د مطالعې لپاره مهمې وسیلې دي او د اسلامي تاریخ په اوږدو کې، مسلمانانو د ستورپوهنې، ریاضیاتو، فزیک او نورو علومو ته وده ورکړې.

په دې مقاله کې به موږ دا وڅیړو چې اسلام څنګه د علم او ټکنالوژۍ ملاتړ کوي، د کائناتو د مطالعې اړوند قرآني آیتونه څه وايي او د اسلامي تمدن ستر ساینسپوهانو څنګه د ستورپوهنې او ټکنالوژۍ پرمختګ ته خدمت کړی دی.

اسلام، علم او د کائناتو مطا لعه

قرآن او د کائناتو مطالعې ته دعوت

قرآن کریم موږ د نړۍ د عجایبو په اړه تفکر ته هڅوي او انسان ته وايي چې د فضا، ځمکې او د ژوند په خلقت کې د الله (ج) لوی حکمتونه نغښتي دي. لاندې آیتونه د کائناتو د مطالعې اهمیت ته اشاره کوي:

۱- (سورة الانبیاء: ۳۰)
«آیا کافرانو نه دي لیدلي چې اسمانونه او ځمکه یو وو، نو موږ یې سره جلا کړل او له اوبو څخه مو هر ژوندي شی پیدا کړ؟»
دا آیت د بګ بینګ تیوري ته اشاره کوي، چې وايي: کائنات له یوې نقطې څخه پیداشوي او بیا پراخ شوي.

۲- (سورة الملک: ۳-۴)
«هغه ذات چې اووه اسمانونه یې یو پر بل جوړ کړل، ته به د رحمن په خلقت کې هېڅ ډول بې نظمي ونه مومې؛ نو بیا خپل نظر واړوه، ایا ته کوم عیب وینې؟»
دا آیت د کائناتو نظم او د هغو دقیق جوړښت ته اشاره کوي.

۳- (سورة الشمس: ۱-٦)
«قسم دی لمر ته او د هغه رڼا ته او قسم دی سپوږمۍ ته کله چې په هغه پسې روانه شي او قسم دی ورځ ته چې رڼا راوړي او قسم دی شپې ته چې هغه پټ کړي او قسم دی اسمان ته او هغه ته چې جوړ کړی یې دی.»
دا آیتونه د ستورپوهنې (Astronomy) بنسټیز اصول ښیي.

اسلامي تمدن او د کائناتو مطالعه

په اسلامي تمدن کې، ساینس د دین یوه مهمه برخه وه. مسلمانانو د ستورپوهنې، ریاضیاتو، فزیک او کیمیا په برخو کې ستر پرمختګونه وکړل.

مشهور اسلامي ستورپوهان او ساینسپوهان

۱-البیروني (۹۷۳-۱۰٤۸)
د ځمکې قطر یې محاسبه کړ.
د سیارو د حرکت او د ستوریو د اندازه کولو لپاره یې مهم اصول وړاندې کړل.

۲-ابن هیثم (۹٦۵-۱۰٤۰)
د اپټیکس (Optics) پلار بلل کېږي.
د ستورپوهنې او فزیک قوانینو ته یې وده ورکړه.

۳-نصیرالدین طوسي (۱۲۰۱-۱۲۷٤)
د مراغې مشهور رصدخانه یې جوړه کړه.
د سیارو د حرکت لپاره یې مهم جدولونه جوړ کړل.

٤-الفرغاني (۹مه پېړۍ)
د فلکیاتو (Astronomy) مهم کتابونه یې ولیکل، چې د قرون وسطی اروپایي ساینسپوهانو ته الهام ورکوونکي وو.

ټکنالوژي او د کائناتو مطالعه

د ټکنالوژۍ پرمختګ د کائناتو د مطالعې لپاره نوي فرصتونه برابر کړي دي. د عصري ساینسي وسایلو په مرسته، انسان اوس کولی شي د ستوریو، کهکشانونو او سیارو په اړه دقیق معلومات ترلاسه کړي.

د عصري ستورپوهنې پر مختګو نه

۱- هابل ټیلیسکوپ (Hubble Telescope):
دا یو فضایي ټیلیسکوپ دی چې د کائناتو لرې لرې برخې مطالعه کوي.

۲- جېمز ویب ټیلیسکوپ (James Webb Telescope):
د کائناتو د خلقت د لومړیو پړاوونو د مطالعې لپاره جوړ شوی.

۳- د کهکشانونو پراخېدل (Expanding Universe):
ساینسپوهانو دا ثابته کړې چې کائنات لا هم پراخیږي، چې د قرآن کریم د ذکر شوي مفهوم سره سمون لري:
«او موږ اسمانونه په لوی قوت سره پیدا کړل او بېشکه موږ (هغوی) پراخولی شو.» (سورة الذاریات ٤۷)

٤-د مریخ تحقیق (Mars Exploration):
ساینسپوهان هڅه کوي چې د ژوند نښې د مریخ پر سطحه پیدا کړي.

اسلامي نظریه او ساینس

اسلام ساینس او ټکنالوژي ته د یوې وسیلې په توګه ګوري چې د کائناتو د رازونو د کشفولو لپاره کارول کېږي. د اسلامي عقیدې له مخې:
ساینس د الله (ج) د قدرت نښې ښکاره کوي.

ټکنالوژي باید د انسانیت د ګټې لپاره وکارول شي.
علم باید د اخلاقو او دیني ارزښتونو سره برابر وي.
رسول الله ﷺ فرمایلي:
«د علم زده کړه پر هر مسلمان فرض ده.» (ابن ماجه)
دا حدیث ښيي چې اسلام د علم او مطالعې ملاتړ کوي.
اسلام انسان ته د کائناتو د تفکر او مطالعې امر کوي.
د اسلامي تمدن ساینسپوهانو د فلکیاتو او ساینس په مختلفو برخو کې ستر کارونه کړي.
نن ورځ، د عصري ټکنالوژۍ په مرسته، ساینسپوهان د ستوریو، سیارو او د کائناتو د خلقت په اړه نوي کشفیات کوي.

د اسلام پیغام دا دی چې علم او دین یو له بله جلا نه دي. مسلمانان باید ساینس او ټکنالوژي د پرمختګ لپاره وکاروي، خو دا باید د اخلاقو او دیني اصولو سره سم وي.

ساینس او دین یو بل ته متضاد نه، بلکې یو بل ته متمم دي. اسلام موږ ته وايي چې د کائناتو مطالعه وکړو، علم زده کړو او د الله (ج) د خلقت په رازونو پوه شو.

کارتون هفته

Imami

لویدلي ستوري

نهۀ پنځوسم ستوری

امین وردک



شهید عصمت الله (حجاز)
نوم او تخلص: عصمت الله (حجاز)
د پلار نوم: مولوي سردار (احوج)
ځای: افغانستان، وردګ، سیدآباد، تنګي دره، امین خېل.
عمر: (۲۸) کاله
مدني حالت: متأهل
یتیمان: اولادونه یې نۀ لرل؛ فقط د ګډ ژوند یکي یوه ملګرې یې ترې پاتې شوه چې اوس یې له بل کس سره نکاح تړلې ده.
زده کړې: د جومات له امام، خپل پلار او مشر ورور څخه لومړنۍ دیني زده کړې.
د شهادت نېټه: (۱۳۹۶/۱۲/۱۶) هجري لمریز کال، د څلورنۍ (چارشنبه) ورځ، ماښام مهال (۷:۱۷) اووۀ بجې او اوولس دقیقې.
د شهادت لامل: غربي اشغالګرو ته د مجاهدینو له خوا ایښوول شوی ماین.
د شهادت ځای: د ښادیوچ او رحمزي خېلو (رنځي خېلو) ترمنځ پراتۀ غرۀ (سپینکي) پۀ لوېدیځه خوا کې، سرۀ رېګ ته نږدې د هغۀ بندکي جنوب لوري ته چې د وردګو امین خېلو او د لوګر توریخېلو ته تللې اوبۀ سره بېلوي.
مزار: پۀ خپله پلرنۍ هدیره کې.
کیسه کوونکې: د شهید غمجنه مورکۍ.
راسره مل کسان: روح الله حجاز، حیات الله امین او امین الله امین.
مکمله کیسه: زویه پۀ دغې ورځ چې زۀ له کابل څخه کور ته راغلمه نو د کور ټول غړي خفه وو او فضا هم بې خونده وه ځکه چې څمکه بادونو او خړو لوخړو پۀ سر اخیستې وه او آسمان بیا سرو کافرانو نیولی ؤ، نو زۀ خو موټر هم ګنګسه کړې ومه، مګر د وحشي دښمن د ډرون الوتکو بنګاري، باد او د کور پرېشانه حالت نوره هم پسې ګچه ګوله کړمه، پۀ هر حال... ورځ تېره او ماسختن شو چې نجونو ډوډۍ راواخیسته، ځینې دسترخوان ته زړۀ نازړۀ رانږې شول، څوک ژاړي او څوک له کوټې ووتل، مطلب ګډه ګډوډي وه! تر دې چې ماته هم علت د خفګان ښکاره شو او هغه دا چې درې کسه وړوکي لمسیان مې له کوره وتلي وو او پۀ ګرد غبار کې یې لاره ورکه کړې وه، نو دوی له همدې امله پۀ کور کې غالمغال سره کړی ؤ چې بیا مې زامنو ایله بیله ماښام مهال را پیدا کړل، پۀ همدغۀ وخت کې (چې ډوډۍ ته کېناستو) یو ډېر قوي درز شو! ټولو یو بل ته وارخطا وارخطا سره وکتل، بیا نو یو پۀ بل پسې له کوټې ووتل، زۀ نو داسې شومه لکه چا مې چې پر سر د څټک (چکوش) وار کړی وي او ورو مې له ځان سره وویل چې خدایه خیر! کافرانو بۀ بیا د چا کور وران کړی وي؟ زامن مې ټول لارې ته ووتل، لس دقیقې لا سمې نۀ وې تېرې شوې چې د لاچخېلو او علم خېلو تر منځ پر تللې لاره د موټرو او موټرسیکلونو لیکه جوړه شوه، خو لنډه بۀ یې درته وایمه زویه چې لږ ځنډ وروسته موټر بېرته راغلل نو زما زامنو ته یې ویلي وو چې شهیدان معلومېږي نه، خو کۀ د هر چا سودا وي کلینیک ته دې راشي.
د شهید مشر ورور (نجیب الله امین): پۀ دغې ورځ زمونږ پۀ مخابره کې چارج نۀ ؤ ،ځکه خو خبر نشوو چې څوک او چېرې شهیدان شوي دي؟ خو کله چې روح الله پر لار تېرېدونکي موټر ته (چې شهیدان پکې بار وو) اشاره وکړه چې ودرېږي او مونږ ته حال راکړي چې ګواکې څوک شهیدان شوي؟ نو دوی ورته وویل چې کۀ مو ډېره سودا وي د دولت خېلو کلینیک ته پسې راشئ! بیا زۀ او روح الله ورور مې دواړه خو بېل بېل پر موټرسیکلونو سپارۀ کلینیک ته پسې ورغلو، هلته پۀ بیروبار کې کوم چا وویل چې (یو د امین خېلو عصمت الله حجاز دی!) نو زۀ ایله بیله پوه شوم چې ټکه خو زمونږ پر کور ده! بیا مې کوښښ وکړ چې عاجل اتاق ته ور ننوزم او خپل ګران شهید ورور مې له نږدې وګورم، خو مجاهدینو ملګرو اجازه نۀ راکوله (مجاهدینو بۀ تل دا کوښښ کولو چې د شهیدانو د اجسادو له سمبالولو څخه وروسته یې وارثان خبر شي او ویې ګوري ترڅو ډېر و نۀ ځورېږي) خیر خو... د علم خېلو حبیب الرحمن حبیبي ته مې وویل چې خبر یم او ورور مې هم پکې شته! نو اجازه راکړه؟ زۀ کوښښ کوم چې صبر وکړم ځکه چې د الله له خوا ده! بیا یې اجازه راکړه، خو چې عاجل اتاق ته ور دننه شوم او د دوی ټوټې ټوټې تنې مې ولیدې، بیا مې د خپل ګران او زړور مجاهد ورور نیم بدن ولید چې پۀ تابوت کې ایښی ؤ نو یې لږ شېبه سر ته کېناستم او د دۀ ټولې هغه کارنامې مې مخې ته راټولې شوې چې د الله پاک پۀ لاره کې یې کړې وې، هغه زړورتیا او جسارت یې، هغه خوږ چلند، ترحم او اوسنی نیم وجود بۀ یې چې ما سره پرتله کول نو پر زړۀ بۀ مې لمبې تاوېدلې، لږ ځنډ وروسته بېرته ووتم او پۀ بېړه مې روح الله پیدا کړ، ورته ومې ویل چې زۀ د عاجل اتاق ته ورغلم او شهیدان مې وکتل، یو پکې د لاچخېلو سروري دی، نو ته لاړ شه کور ته او د کور خلکو ته ډاډ ورکړه چې عصمت الله نشته پکې، ځکه چې د هغوی بۀ سودا وي او زۀ بۀ ورسره پاتې شم؟ (د کور خلک وختي لاشکمن شوي وو چې ګني عصمت الله هم پکې دی، ځکه چې هغه د لوګر خواته تللی ؤ) دۀ راته وویل چې نو ته ولې ورسره پاتې کېږې؟ ما ځواب ورکړ چې ورونه یې نشته بد کار دی چې دواړه ترې لاړ شو، زۀ تر سهاره ورسره شته یم! خو لنډه دا چې روح الله پوه نشو او کور ته مې ولېږلو، خیر خو سهار وختي مې بل ورور حیات الله امین ته زنګ وکړ (هغه خبر شوی ؤ چې عصمت الله هم شهید دی) چې مور مو تر هغې مه خبروئ څو مو چې جنازۀ نه وي در اخیستې، خو کله مو چې جنازۀ در واخیسته نو بیا ورته ووایئ، ځکه چې یو پۀ یو لیدل بۀ یې خدای مکړه لـه قلبي یا عصبي حملې سره مخ کړي، بیا یې همداسې کړي وو.
د شهید مورکۍ راته وویل چې زامن مې دې الله راته وساتي تر سهار ناوخته یې زۀ خبره نکړم، خو چې کله خبره شومه نو بیا الله پاک پوره صبر راکړ، نۀ قلبي حمله راباندې راغله او نۀ هم عصبي، بلکې هېڅ هم راباندې و نۀ شول، زویه خو راته کې یې ښود او پۀ غېږه کې مې ټینګ و نیو... هو همغسې مې ونیو لکه پۀ ماشومتوب کې بۀ مې چې نیولو؛ نه نه ! همغسې لکه پرون یې چې زۀ ټینګه پۀ غېږ کې ونیولم او بخشش یې رانه واخیست بیا روان شو، تر شا شا یې راکتل او راته خندل یې، خو نن یې نۀ راتـه وخندل او نۀ یې هم راتـه وژړل... پټه خوله پروت ؤ او ما مړې مړې اوښکې ورته تویولې، هو زویه! کوکې مې تر خپلې وسې مهارې کړې وې، خو اوښکې او سلګۍ مې نشوی تم کولی! ځکه چې ځوانیمرګ قسم راکړی ؤ چې مورې کۀ زۀ شهید شوم، نو پۀ لوړ آواز بۀ نۀ راپسې ژاړې او دا یې هم راته ویلي و، چې ګوره مورجانې! زما داسې مور ډېره خوښېږي چې د شهید زوی پۀ وینو سور جسد یې ورته ایښی وي او دا مړې مړې اوښکې تویوي خو پۀ کوکو نـۀ ژاړي! کۀ دې پـۀ کوکو راپسې وژړل، نو زۀ خامخا خفه کېږم! بلکې شکرانې بۀ اوباسې، ما بۀ ورته ویل چې ایسته کړه عصمت الله جانه دا خبرې مه راته کوه، خدای دې ماته د یوۀ زوی غم هم نۀ را وینې ځکه چې تاب یې نۀ لرمه! همغه غمونـه مې بس دي چې پـۀ ژوند کې مې لیدلي، نو ماته یې هغه خبره رایاده شـوه ځکه خو یې سر ته ناسته ومه او شکرانې مې ایستلې، زړۀ مې کوکې وهلې خو خولـۀ مې پۀ وچ زور پټه کړې وه چې له ټولو راته ګران او کشری زوی مې خفه نۀ شي.
زوی مې تکړه او د سنګر مجاهد ؤ، پـۀ اولو وختو کې بۀ یې همدلته (پۀ تنګي، شیخ آباد او سید آباد کې) له کفارو سره جنګونـه کول، خو کله بۀ چې دلته جنګ نه ؤ، نو بیا بـۀ لوګر ته تللو، هر وار بۀ یې چې چانټه بسته کړه او سپینه جنډۍ (چې کلیمه پرې لیکل شوې وه) بۀ یې تر سر تاو کړه نو زۀ بۀ پوهه شومه چې بیا ځي جنګ ته! پۀ آخرو وختو کې یـې څنې هم کمې کړې او ګیره هم ، هره ورځ بۀ یـې د پلار او ورونو ورسره جنجال ؤ چې ګني عصمت الله له کوزدې سره بالکل واوښت، ځکه خو یې ظاهري بڼه هم واړوله، خو نه او داسې نۀ وه! ماته خو بۀ یـې ټول حالونـه ویـل؛ دۀ پۀ دغۀ وخت کې یـو زوړ ټکسي موټر واخیست چې تر شیخ آباد او لوګر ولایت پورې بۀ یې ظاهراً سپرلۍ پکې وړلـې راوړلې چې څوک پوه نشي، خو کله کله بۀ یې پټ مرمۍ او داسې نور شیان هم له ځان سره وړل راوړل! یوه ورځ یې ماته قسم واخیست چې مورجانې نن ستا د دعـا له برکته الله پاک وساتلم! ما ویل ولې زویه؟ ویل یې چې فدایان ملګري مې نن د چک ولسوالۍ خوا ته وړل چې د اشغالګرو د مزدورانو پر یوه تلاشۍ وربرابر شوم، پۀ دغۀ وخت کې مې خاندن چالان کړ، نو عسکر چې زما ږیرې، سرتور سر او خاندن سره مقایسه کړل، نو یې راته وویل چې څه ځوانه حرکت وکړه، باروت او داسې نور شیان خو بۀ یې ډېر وړل راوړل.
د نجیب الله امین قول : عصمت الله جان د ځوانۍ پـۀ لومړیو مراحلو کـې له روح الله سره پـۀ ایران کې مزدوري کوله، خو چې کله شل کلن شو نو یې ماته پۀ تلیفون کې وویل چې ورور جانه له دنیا څخه مې زړۀ تور دی ځکه خو درځم وطن ته او غواړم چې نور نـو عملاً جهاد پیل کړم؟ (مالي مرسته خو بۀ یې رالېږله) ما ورته وویل چې زما بیخي خوښه ده، بیا څۀ وخت وروستـه راغی او رښتیا یې هم عملي جهاد ته ملا وتړله او پۀ ډېر اخلاص سره بۀ سنګرونو ته تللو، کله دلته او کله بۀ د سجاوند لـه سنګري شـهید او د هغوی له ملګرو سره ؤ.
د شهادت کیسه یې بیا داسې وه چې دی او دوه نـور ملګري یې (د لاچخېلو نجیب الله قیس او نجیب الله انتظـار) پۀ لوګر کې ورته ویلي وو چې نن شپۀ له مـونږ سره پاتې شـه ځکه چې ناوخته دی، اوس بۀ مجاهدینو ماینونه عیار کړي وي؟ دۀ ورته ویلي چې نه نه، یوه شپۀ هم ښه ده چې پـۀ کور کې یې تېره کړم! دا چې دوی ټول د سنګر ملګري وو ځکه خو هغوی ورته ویلي چې خی مونږ هم درسره ځو، تا تر کوره رسوو او مـونږ بېرته درنـه راځو، خو کۀ ماینونه عیار شوي وي بیا څۀ وکړو؟ دۀ ورته ویلي چې ماته معلومات شته چې ماینونه چـا او چېرې یې خښ کړي دي؟ ځکه چې هغوی شناخته او مجاهدین ملګري دي؛ مونږ سره پېژنو! نو کله چـې د ماین ځای ته و رسېدو، لاره بـۀ پرېږدو او پر پوښته بۀ وخېژو (دا خبرې د ښځینه وو تر منځ خولۀ پـۀ خولۀ تر ما را ورسېدې، ممکن هملته چې دوی را روانېږي چا آورېدلي وي؟) خو لنډه دا چې درېواړه پر موټر سیکل سپارۀ را روان شوي دي، خو کله چې سرۀ رېګ ته را رسـېدلي (چې دا ځای د سپینکي لوېدیځ لوري ته پروت دی) نو دلته یې د جمپ له امله خپل لاس پریښی او چپۀ لاس ته اوښتي، خو اجل پۀ همدغۀ ځای کې کمین ورته نیولی ؤ، ځکه خو ټول یو ځای پر ماین ور برابر او ټوټې ټوټې شـول؛ غالباً مجاهدینو همدا ماښـام ماین د پوښتـې له یوې خوا څخه بلې ته اړولی، ځکه خو دوی ته دا ځای نۀ دی مالوم، کنه درېواړه مجاهدین وو او د ماین له ایښـودونکو سره یې له نږدې پېژندل، د ماین له ځای څخه یې پـۀ ترتیب سره لـیرې لیرې وار کړي وو، چې زمونږ ورور فکر کوم تر ټولو مخته پر موټرسـیکل سپور ؤ ځکه خو یې پـوره پنځوس متره هاخواتـه وار کـړی ؤ، دویم پنځه دېرش او دریم بیا پنځلس متره ؤ.
د شـهید ورور روح الله حجاز راته وویل: پۀ ټول عمر مې دومره دروند غم نۀ ؤ لیدلی لکه د شهید عصمت الله جـان! چې کله یې د شـهادت ځای تـه ورغلو نو ما او مشر ورور مې (نجیـب الله امین) یې غوښـې او هډوکي پـۀ ګوتو راټولول، توبۀ خدایـه! هېڅکله بۀ مـې هم هغه بوږنوونکې صحنه هېره نشي؛ ورور مې (نجیب الله امین) ښـۀ ؤ پۀ مړو اوښـکو بۀ یې د دۀ د بدن میده میده هډوکي راواخیستل او پۀ پلاستیکي خلتۀ کې بۀ یې واچول، خو ما بۀ پۀ زوره کوکې کـړې او سر ته بۀ مې لاسونه ونیول، بیا مې ورور تر لاس و نیـولم او له هغۀ ځایه یې بېرته را وایستم کور ته.
د شـهید بل ورور حیـات الله امین راته وویل: عصمت الله جان تکړه او جسـور مجاهـد ؤ! ډار مار یې نۀ پېژندلو، هر کار بـۀ یې پۀ ډېره مېړانه او شجاعت سره کولو، زمونږ د کـور پر وړو داسـې ګران ؤ لکه پلار یې چې وي او پر غټانو داسـې ګران ؤ لکه زوی یې چې وي؛ هغه یو رښتینی او غیرتي ځوان ؤ خو له لاسه مو ووت.
د شـهید درېیـم ورور ذبیـح اللـه (ابوهریـره) راتـه وویل: شـهید وروړک مې له ما کشر ؤ خو جهاد ماته دۀ راوښود او د دۀ د تشویقونو او مېړانو له امله بۀ زۀ هم سنګر ته پـۀ جوش او جذبۀ سره تللم چې بیا شېرازي بابا ته نږدې له مزدور دښمن (د ناټو افغان ملګري) سره پۀ مخامخ جګړه کې ټپي هم شـوم؛ نو حجاز یـوازې زمـا ورور نـه بلکې خوږ ملګری مې هم ؤ.
امین الله امین راته وویل: کاکا جان مـې پر مونږ ډېر ګران ؤ؛ ځکه چې مونږ پرې ګران وو! کله بۀ چې کوم یوۀ ته قهرجن شـو نو بـۀ یې هغه وروغوښـت او پۀ غېـږ کې بۀ یې کلـک ونیو، بیا بۀ یـې ورته وویل چې زۀ نو چېرې خپل ګران وربرونه وهـم او یا یې خفه کـوم ! الله دې جنت ورکړي مونږ یې ډېر نازولو.
د نجیب الله امین قول : زۀ شـاهدي وایم چې عصمت اللـه غیرتي، ډېر شـجاع مجاهد او مخلص ځوان ؤ، ما یې د جهاد پۀ سـختو شپو ورځو کې مېړانې لیدلې، داسې ؤ چې کله بۀ دلته (پۀ تنګي یا شـیخ آباد کې) جګړه نه وه، نو د سـجاوند شـهید مولوي سـنګري او یا د هغه ورور شـهید مولـوي سردار او یا ملګرو ته بـۀ یې ورغی او له هغوی سره بۀ یـې جهادي خدمت ته مـلا وتړله، ډېر سخي ځوان او د سختې ورځې یـار ؤ، نۀ یـوازې د کور پر خلکو ګران ؤ، بلکې د سنګر او سفرونو پر ملګرو، همدا راز د کلي پر ټولو وګړو هم بیخي ډېر ګران ؤ؛ تاسـو باور وکړئ چې ما پۀ یوه جنازۀ کې هم دومـره ډېرې ژړاوې او کوکې د عامو خلکو نۀ وې آورېدلې لکه د دۀ د شهادت پۀ ورځ مې چې واورېدې، عجیبۀ وه! داسې کسانو هم ژړل چې پۀ ژونـد کې یې له دۀ سره خبرې نۀ کولې، الله پاک دې جنتونه ورکړي، سـخت د غربت ژوند یې تېر کړ، حال دا چې سـخت جسـور ځوان ؤ خو عجب بې ځایـه لاړ، د دۀ او زمـونږ ټولو آرزو خـو دا وه چې له دښـمن سره پۀ مخامـخ جګړه کې شهید شوی وای، خو دی پر خپل (د مجاهدینو) ماین وخوت او شـهید شو.
مولوي محمد سرور (سروري) راته ویـل: عصمت الله (حجـاز) ډېر مخلـص مجاهـد ؤ او ځینې خارق العاده کارونه یې ما پۀ خپلو سترګو لیدلي؛ یـوه ورځ یې ناګهانه د کمین پۀ مهال د شـیخ آباد پـۀ ډاګبغرۍ سـیمه کې (له دښـمن سره له نښتې لږ مخکې) ماته پۀ خندا او د ټوکې پۀ توګه وویل چې واهلکه سروري غوږ شه! ما ورته وویل چې ښه وایه بیا څۀ ګلان راته کړې؟ دۀ وویل چې ګوره! نن بـۀ له ټولو مخکې تۀ پر یوۀ شخصي موټر د پیکې فیر وکړې، موټر بۀ وارخطا شي او خامې ته بۀ ووزي، خـو هلته بـۀ پنچر شي! بیا بۀ دښمن را ورسـېږي او جګړه بۀ ونښلي! ما ورته وویل چې کېنه هلکه اپلتې مه وایه! زۀ خو څۀ لېونی نۀ یم چې پر شـخصي موټر بۀ ډزې کوم! خو امین صاحب والله قسم چې بیا همداسـې وشـول؛ د دۀ له خبرو لږ وروسته یو پۀ یو تک سور کورولا موټر را واوښت، ما حواس له لاسه ورکړل او فکر مې داسـې شو چې ګني دښـمن دی! ځکه مـې د پیکا ضربۀ پرې وکړه، هغه ښـه وه چې یوازې یوه مرمۍ یې پر چت ونښته او نورې پرې واوښتې، خو لله الحمد څوک پکې خوږ نشـول، رښتیا یې هم موټروان وارخطا شـو او خپله کورولایې خامې ته و ایسته، بیا نو وروسته دښمن را و رسېد او جګړه ونښـته، مګر بل وخـت مو چې د هغۀ کلي له یوۀ کس څخه پوښـتنه وکړه، نو ویل یې چې له جګړې نه لږ مخکې یوه سره کورولا خامې ته ووته او هلته پنچره شوه! هو والله دا واقعه ما په خپلو سترګو لیدلې نور نو والله اعلم؟ سنګري دا هم وویل چې عصمت الله حجاز زما له ټولو خوږ ملګری ؤ چې پۀ زیاترو پیرو ګزمو او جنګونـو کې یې له ما سره برخه اخیستې ده، دومره خاطرې یې راسره دي چې بسته کتاب ترې جوړېږي، همدا راز هغه نـور دواړه هم تکړه مجاهدین وو چې کیسې مې یې درته کړې دي، الله پاک دې درېواړه قبول کړي زمریان وو زمریان، خو سخت بې ځایه لاړل.
د شهید مور د خپلې ورېرې پۀ هکله داسـې وویل: د ګران زوی ژوند مې سخت نیمه خوا شـو؛ چې وادۀ مو ورتـه وکړ دی مسـافر ؤ، چې کله شهید شو نو مشر زوی مې وویل چې هره کونـډه د خپل نفس مالکه وي ځکه خو باید هېڅوک فشـار پرې ورنه وړي او کامل اختیار ورکړي؛ خو زما زړۀ نۀ ؤ چې له کوره ووزي (یانې بل ځای مېړۀ وکړي) خیر خو وختونه تېرېـدل، ورېره بۀ مې کله دلته وه او کله یې د پلار کره، تر دې چې کال یې پوره شـو، نو مې ورور (ګل رحمـن) زما مشر زوی (نجیب الله امین) ته ویـلي وو چې لور مې غواړې له تا سره نکاح وکړي! بیا مې زوی سملاسي زما بل ورور (حاجي رمضـان) ته ویلي وو چـې دا خبره رښـتیا ده کۀ نه هسـې یوڅوک پر دغې غمځپلې کونډه فشـار ور ولې او بنتـون ته یې مجبـوروي؟ هغۀ ورته ویلي وو چې هو دا رښتیا ده او ما خپله هم خبرې ورسره کړې دي، مګر زوی مې ځواب ورکړی ؤ چې زما خو هم ښځه شته او هم اولادونه؛ مطلب اړتیا نشته! نو دا دې کوښښ وکـړي چې بل ځـای ځانله خوښ کړي او داسې څوک چې مجرد وي (دا خبرې زما زوی ثبت کړې وې بیا یې زما پۀ ګډون د کور ټولو غړو ته واورولې) د شهید د کونډې پۀ هکله د نجیب الله امین قول: کله مو چې د شهید ورور جسد کور ته راوړ او پۀ کوټه کې مو کېښود نو زۀ ولاړ وم او ورېندار مې ناسته وه چې ناګهانه یې زما پر بوټونو کلک لاسونه خښ کړل او راته ویې ویل چې زما بۀ څۀ حـال شي او له ما سره بۀ تاسـو څۀ کوئ؟ (زۀ ګمان کـوم د دې مطلب دا ؤ چې ګواکې تاسو بۀ کېدای شي ما پۀ زور نـکاح کړئ او بنې ته بۀ مې اړه کړئ؛ ځکـه چې مونږ ټولو وررونو ودونـه لرل) ما چـې د دې مظلومانه او وارخطا حالت ولید نو سخت زړۀ مې پرې وسوځېد، ځکه خو مې ورته وویل چې د دغو ټولو خویندو پۀ مخکې دا وعده درکوم چې ذره بۀ هم تۀ له مونږ څخه خفه نشې ان شـاءالله او نۀ بۀ څوک پر تا ظلـم وکړي، ځکه خو بۀ بیا چې څۀ ډول د دې خوښه وه مونږ ټول بۀ همغسې ورسره چلېدلو، کۀ بۀ زمونږ کره وه او کۀ یې د پلار کره؛ مطلب خوشاله مو سـاتله! خصوصاً ما بۀ ډېر پام پرې کولو، تر دې چې ځینې ګنګوسې مې واورېدلې چې ګني زۀ غواړم د دغې ښځې زړۀ لاسته راوړم او خپل ځان ته یې نکاح کړم! ځکه خو مې چې کله ماما زنګ راته وکړ نو خبرې مـې یې ثبت کړې چې بیا یـې ټول واوري، خـو چې مور مې خبره شـوه (چې ما ځواب ورکړی) نو سخته خفه شـوه او سهار ماښام بۀ یې ژړل چې تاسو ولې کبر کوئ او ولې زما ورېره له کوره باسئ! تر دې چې زۀ مجبور شوم او بیا ورغلم، ورته ومې ویل چـې زما له کوم بل ورور سره دې نـکاح وکـړي؟ خو هغـوی راته وویل چې لـه بل سره نکاح نۀ کوي، تر دې چې زۀ اړ شوم او خپل رضایت مې وښود، خو چې کله یـې کونډې ته ویلي وو نو هغې ځـواب ورکړی چـې د مجبوریت نکاح بیا زۀ نۀ کوم، ولې یې اول کې زما وړاندیز رد کړ؟ پر ما څۀ شوي؟ ولې زۀ دومره بې قدره شـوم؟ دۀ ته مې پیغام ولېږلو او دۀ رد کړ، دا کار چې ما وکړ د اسـلام د سـتر پیغمبر ښـځې (بي بي خدیجې) هم کړی ؤ! بیا یـې پلار راته وویـل چې کومه ورځ تـا د دې غوښـتنه رد کړه نو راتلونکې شـپه یې تر سهاره وژړل! نو د مامـا دغې خـبرې او د مور د خفګان ترڅنګ مې د خپلې ګرانې مېرمنې تکراري غوښـتنو زۀ هم اړ کړم چې نکاح ورسره وتړم، خو دا ځل مې ورېندار ضد ونیوله؛ مطلب هغه پښـتني غرور یې را وپارېدلو او انکار یې وکړ؛ اصل کې خو زما زړۀ ځکه نۀ ؤ چې نۀ مې غوښـتل له خپلـې دردېدلې وریـنـدارې سره له خپلې خوا ښـۀ سلوک پر نکاح معامله کړم، چې سبا ټـول وروڼه او یـا نږدې خپلوان راته ووایي چې سـتا صمیمانه چلند د خدای لپاره نه بلکې د نکاح لپاره ؤ، بل لامل دا هم ؤ چـې زما د کـشر ورور کوروالـه وه، نو ماته لکه کشره خور داسـې ښـکارېده، درېیم علت یې زمونږ د سـن تفاوت ؤ، همـدا راز ما دا هم غوښتل چې ممکن هغه بۀ زړۀ نشي کولی چـې بل ځای نکاح وکړي او داسـې نور... خو لنـډه دا چې ماما ته مې وویل چـې لور دې هر ځای ورکوې مونږ مانع نۀ یو، خو کوښښ وکړه چې هم مناسب ځای ورته پیدا کړې او هم پیسې پرې وانه خلې، بیا یې کوم چا ته نـکاح کړې وه چې مونږ یې پر هېـڅ شي هم دقیق خبر نشوو! خو دومره مې واورېدل چې پیسـې یې پرې اخیستې وې! نور نو والله اعلم؟

د نړۍ بېلابېل فشارونه او د افغانانو ټېنگ هوډ

شاوخوا درې نیم کاله کېږي، چې اسلامي امارت په افغانستان کې واکمن دی او دغه واکمني یې په وړیا ډول نه ده ترلاسه کړې؛ بلکې د سلگونو زره سرونو له نذرانه کولو وروسته یې ترلاسه کړې ده.

تېرو شلو کلونو کې افغانانو د امریکا او له هغې وړاندې د پخواني شوروي اتحاد او انگلستان پر وړاندې له قربانیو ډکه پوځي مبارزه کړې او د دغې مبارزې اقتصادي او سیاسي بڼه لاهم روانه ده.

افغانستان کې د اسلامي امارت د رواني واکمنۍ پر مهال نړۍ هڅه کوي د بېلابېلو سیاسي او اقتصادي فشارونو له لارې افغان چارواکي دېته اړ کړي، چې د افغانانو د مذهب او کلتور خلاف خپلې غوښتنې پرې ومني.

نړۍ او په ځانگړي ډول لوېدیځ څه غواړي؟ دا واضح خبره ده، چې افغانستان کې د وروستیو درې نیمو کلونو امن د نړۍ نه لوړېږي او غواړي دلته جگړې وي او اختلافات روان وي، نو له همدې امله د دوی یوه غوښتنه دا ده، چې اسلامي امارت باید پخواني مفسدین، غله، چارواکي او نور خاینین په خپل حکومتي چوکاټ کې ځای پر ځای کړي، تر څو له دې لارې د اسلامي امارت پاکي او مقدسې لیکې بد نامې کړي.

بل دوی په افغانستان کې د ښځو لپاره د لوېدیځ په څېر حقوق غواړي، هغه څه چې خپله افغان مېرمنې یې ورسره نه مني او په تېر کې هم پر افغان مېرمنو د دغه ډول حقوقو تحمیلول یوه جبري مسئله وه، چې له ناکامۍ سره مخ شوه.

درېیم ، نړیوال په ځانگړي ډول لوېدیځ غواړي، بهرني سیاست د هغوی په خوښه پر مخ ولاړ شي، هغه څه چې په تېرو پنځوسو کلونو کې ناکام او شنډ شول.

نو خبره دا ده، چې د افغانستان اسلامي امارت مجاهدینو او سیاسیونو د نړۍ، لوېدیځ او په ځانگړي ډول د امریکا متحدو ایالاتو د ډرون، جېټ، رنگارنگ ټانکونو او نورو وسلو پر وړاندې او دغه راز د سیاست پر مېزونو ماتې و نه منله نو د دغه ډول سیاسي فشارونو پر وړاندې خو بیخي نه تسلیم کېږي، دوی ته پکار ده، چې د تعامل لاره غوره کړي او افغانستان کې د اسلامي امارت نظام د افغانانو د مشروع نظام په توگه ومني او تعامل ورسره وکړي.

د فکري جگړې ...

لپاره فکري تحلیلونه وړاندې کوي، تر څو اسلامي امت له فکري اشغال څخه خلاص شي.

له بلې خوا، اسلامي امارت د اطلاعاتي جگړې لپاره د اسلامي اصولو په رڼا کې کار کوي، ځکه چې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (ابن ماجه: ۲۶۱) یعنې « چا چې هغه علم پټ کړ چې خلکو ته د دین په اړه گټور وي، الله به هغه ته د قیامت په ورځ د اور مهار ورواغوندي.» نو د اسلامي امارت د اطلاعاتي جگړې موخه دا ده چې د اسلامي امت لپاره ضروري معلومات خپاره کړي او د غربي فکري یرغل پر وړاندې د اسلامي ارزښتونو دفاع وکړي.

همداراز، د اسلامي اطلاعاتي جگړې د تقویې لپاره یو بل مهم شرعي دلالت د الله تعالی دا حکم دی: (الأنفال: ۶۰)؛ یعنې « تر خپله وسه ځواک ورته چمتو کړئ.» د دې آیت مفهوم یوازې نظامي چمتووالی نه دی، بلکې اطلاعاتي، فکري او تبلیغاتي ځواک ته هم اشاره لري، ځکه چې د دښمن فکري جگړه له وسلوالې جگړې هم خطرناکه ده. نو اسلامي امارت د دې الهي حکم پر بنسټ د معاصرې اطلاعاتي جگړې لپاره قوي تدابیر نیولي، د رسنیو، ټولنیزو شبکو، علمي څېړنو، او فکري تحلیلاتو له لارې د اسلامي مفاهیمو پیاوړتیا ته کار کوي، تر څو د امت فکري استقلال وساتل شي او د باطل تبلیغاتو مخه ونیول شي.

د ملتونو په بقا او ...

۱- نظام باید په ټولنه کې د اخلاقي ارزښتونو د راوستلو او تقویې په هدف خپل ټول مطبوعاتي او نشراتي وسائل په سیستماتیک او هدفمندانه ډول د ماهرو خلکو په توسط وکاروي او په جدیت سره د هغو اشخاصو او جهتونو مخنیوی وکړي چې په ټولنه کې د فکري او اخلاقي فساد د خپرولو لپاره کار کوي.

۲ـ د مدارسو، مکاتبو او پوهنتونونو په نصاب کې باید د اخلاقو مضمون په هر صنف کې د داسې یوه لازمي مضمون په حیث چې لوړې نمرې ولري ور داخل او په ښه ډول تدریس شي او همدارنگه استادان، امامان، خطیبان، طالبان او دیني جهتونو ته منسوب خلک باید د ټولنې له افرادو سره داسې مثالي اخلاقي تعامل ولري چې په دې مجال کې په واقعي معنی د خلکو لپاره مثال وگرځي.

په تعلیمي نصاب کې د اخلاقو د مضمون شاملول او اخلاقي روزنه به هم د مدارسو د منسوبینو اخلاقي وضعیت مثالي وگرځوي او هم به په هغوی کې دا علمي توانایي پیدا کړي چې ولس ته اسلامي اخلاق په عملي او علمي ډول ورتلقین کړي او که چېرې دا کار ونشي، نو لرې نه ده چې د مدارسو ځوانان او ځوان علماء به هم په ټولنه کې له موجود اخلاقي انحطاطه متأثره شي چې دغه منفي متأثره کېدل به په ټولنه کې د علم او مدارسو تأثیر کمزوری کړي او طالبان او علماء به مو د ټولنې لپاره په رښتیني معنی د مثالیت په مرتبه کې پاتې نشي او ولسونه به یې د خپل قیادت لپاره وړ ونه بولي، چې دا کار به علم، علماوو او مدارسو ته نه جبرانېدونکی تاوان ورسوي.

محیط سبز زندگی ...

در کشور های شان نمی زدند ، گرمایش زمین سبب نگرانی جهانی نمی بود.

هرچند که افغانستان در تغییر اقلیم جهانی وگرمایش زمین هیچ رولی منفی ندارد، اما گسترش ساحات سبز ومدیریت دقیق آب می تواند بر کشور های منطقه و افغانستان اثرات مثبت به بار بیاورد.

بنابرین حالا که در آمد، آمد فصل رویش وشادابی قرار داریم باید با استفاده از این شرایط در سرسبزی وایجاد ساحات سبز در تبانی با مسئولان امور همکار باشیم وحداقل در مناطقی که زندگی می کنیم با غرس نهال مثمر وغیر مثمر رسالت ومسئولیت ایمانی و وطنی خود را ادا کنیم تا باشد که شهر و ماحول ما شاداب وسرسبز شده هوای گوارا و عاری از آلودگی را تنفس کنیم، زیرا ساحات سبز نه تنها در زیبایی شهر ها و تفریحگاها که امروز یکی از نیاز های اساسی بشراست، تاثیری به سزایی دارد، بلکه در تصفیه هوا وازدیاد اکسیجن نیز رول اساسی را بازی می کند .

ټاپي پروژه ...

د برښنا د لېږد پروژه ده چې له قرغیزستان څخه پیل اوبیا د تاجکستان په خاوره کې د ۴۷۲ کیلومترو په اوږدوالي د افغانستان پولې ته را رسېږي اود ۷۵۰ کیلومترو په طول د افغانستان په خاوره کې د کندز، بغلان ، پنجشیر، پروان ، کابل او ننگرهارله ولایتونوڅخه تېرېږي اود تورخم په برخه کې کوزې پښتونخوا ته ورشیوه کېږي، ددې پروژې پرمټ به د قرغیزستان، افغانستان، تاجکستان اوپاکستان ترمنځ هم د سوداگریزو اړیکو لړۍ را ونښلول شي د مرکزي آسیا د انرژۍ زېرمې به د سویلي آسیا هېوادونو ته صادرې شي. کله چې دغه هېوادونه د سوداگرۍ په یوه مرغلین تارسره ونښلول شي، نو افغانستان به د یوې سوداگریزې څلورلارې په توگه را څرگند شي، دبرښنا دا پروژه یوازې د پاکستان ده ،ځکه هغه ملک د برښنا د انرژۍ له جدي کمبود سره مخ دی. همدا اوس د صنعتي څرخ د څرخولولپاره MW ۱۰۰۰ برښنا ته جدي اړتیا لري چې د کاسا ۱۰۰۰ پروژې برښنا د پاکستان لپاره یومناسب فرصت دی او پاکستان اړتیا لري چې په هره وسیله وي دا برښنا په لاس ته وروړي .

د برښنا له دغو عبوري مزیو څخه به افغانستان ته په لومړي گام کې ۳۰۰ میگاواټه برښنا ورکړل شي. که افغانستان دې برښنا ته اړتیا ونلري کېدای شي له پاکستان څخه یې بیه ترلاسه کړي او نوربه له افغانستان څخه د تېرېدونکې برښنا دهرکیلوواټ په بدل کې یواعشاریه پنځه ویشت سنته حق العبور افغانستان ته ورکول کېږي.

د دې پروژې په پلي کېدوسره به هرکال افغانستان ته ۴۵ میلیونه ډالره د ټرانزیټ په عنوان حق العبورورکول کېږي او برښنا به په ډاډمنه توگه د پاکستان هېواد ته رسېږي.

څرنگه چې په افغانستان کې اوس صنعتي فعالیتونه د ودې په حال دي کېدای شي د پیسو پرځای برښنا تر لاسه کړي ، که څه هم په کابل کې د برښنا اړتیا تردېره برېده دداخلي سرچینوپه ذریعه کنترول شوې ده، خوبیا هم پر وارداتي برښنا کوم باورنشته.

په هرصورت د خپلوخبرو په وروستۍ برخه کې دې ټکي ته هم اشاره کوو چې د انرژۍ ددې پروژو په تطبیق سره به په افغانستان کې داسې ډاډمن امنیت را منځ ته شي چې نه یوازې افغانان بلکې دسیمې هېوادونه به دی ته لیوال وي چې د امنیت په ټېنگښت کې له افغانانوسره مرسته وکړي.

افغانستان از وابستگی ...

به صورت مستقیم از طریق بندر چابهار به هندوستان و سایر کشور های جهان ارسال می شود.بندر چابهار در مقایسه با بندر کراچی پاکستان که همیشه با مشکلات همراه بوده برای افغانستان از جایگاه بهتری برخوردار است.با آغاز صادرات از بندر چابهار تجار افغانستان قادر خواهند شد تا کالاهای تجارتی خود را مستقیم به مارکیت های مورد نظر رسانیده و متقابلاً کالاهای وارداتی خود را بدون کدام تشویش به افغانستان برسانند.

روی این منظور امارت اسلامی افغانستان به خاطر منافع علیای کشور ورهایی از راه های پرخطر و پر چالش و غیر اقتصادی که همیشه اقتصاد کشور مانرا ویران ساخته و کشور مغرض صدمات جبران ناپذیر بر پیکر اقتصاد ضعیف کشور و تاجران ملی ما وارد نموده باید خود را از وابستگی بندر کراچی نجات دهیم و راه های بدیل مانند چابهار و جاده لاجورد را هر چه عاجل در دستور کار قرار دهیم و برای کمک به داخل ساختن افغانستان در منطقه از طریق شبکه های گسترده تجارتی،ترانسپورتی و اتصال منطقوی تلاش نماییم و پلان های مغرضانه دشمنان مردم افغانستان را که همانا جهت عقب نگهداشتن افغانستان و در حاشیه ماندن این کشور تلاش دارند نقش بر آب سازیم و افغانستان را که همانا شایسته آن است به یک مرکز ترانزیتی و اقتصادی در منطقه تبدیل نماییم و ستراتیژی درازمدت خویش را در این قسمت تدوین نموده و افغانستان را با جهان وصل نماییم و مناسبات تجاری گسترده با کشور های جهان برقرار نماییم.

راستنو شویو کډوالو ته ...

مساعده شي، له نیکه مرغه چې په دې وروستیوکې ویل شوي؛ چې له تېرو درېوو کلونو راهیسې له گاونډیو هېوادونوڅخه څه باندې ۴۵ زره راستنو شویو هېوادوالو ته کاري زمیني برابرې شوې دي. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د ویاند په وینا؛ د تېرو درېوو کلونو په اوږدو کې شاوخوا ۴۵ زره او ۷۰۰ کسانوته په دولتي او خصوصي برخو کې او همدا راز د مسلکي زده کړو او اقتصادي ودې په برخه کې، د کار زمیني برابرې شوې دي.

البته له گاونډیو هېوادونو په تېره بیا له ایران او پاکستانه را ایستل شویو افغانانو تل ویلي ، چې افغانستان ته د رسېدو پرمهال له بېلابېلو ستونزو سره مخ دي، ځکه هغوی د راستنېدو پرمهال خپل هرڅه په کوربه هېوادونو کې پرېښي دي.

نو ډېره اړینه برېښي چې د کډوالو ملاتړې اداري باید له کوربه هېوادونو سره خبرې وکړي، ترڅو د افغان کډوالو د جبري شړلو مخه ونیسي. د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، په تېرو درېوو کلونو کې له گاونډیو هېوادونو له څلورو میلیونو زیات کسان افغانستان ته راستانه شوي دي.

همداراز څه موده وړاندې د کار نړیوال سازمان او د کډوالو په چارو کې د ملگروملتونو عالي کمېشنرۍ افغانستان ته د راستنو شویو کډوالو لپاره د کاري فرصتونو د رامنځته کولو په موخه هم یو هوکړه لیک لاسلیک کړیدی. د کډوالو په چارو کې د ملگروملتونو عالي کمېشنرۍ یا «یو ان اچ سي آر» د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي و:«دغه تړون د کارموندنې له لارې د راستنېدونکو د ملاتړ، د ټولنیزو موخو لپاره د شرکتونو د پراختیا، د مهارتونو زده کولو او بازار ته په لاسرسي کې د آسانتیاوو رامنځته کولو په موخه لاسلیک شوی دی.»

د یادونې وړ ده چې راستنو شویو کډوالو ته د کاري زمینو برابرولو په موخه د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت او ترڅنگ یې د کار نړیوال سازمان او د کډوالو په چارو کې د ملگروملتونو د عالي کمېشنرۍ ترمنځ د یاد هوکړه لیک لاسلیکېدل یو نیک اقدام دی او افغان ولس یې هم هرکلی کوي، له شک پرته چې هېواد ته د بېرته راستنو شویو کډوالو لپاره د کار زمینې برابرول سره له دې چې دخلکو د آبرومندانه ژوند دپرمخ وړلو لپاره مناسب اقدام دی ترڅنگ یې د افغانستان پر اقتصادي وضعیت هم مثبته اغېزه لرلي شي، البته بېرته راستنوشویو افغانانو ته د کار برابرولو موضوع مهمه ده، ځکه دا پر اقتصادي ودې مستقیمه او غیر مستقیمه اغېزه لري او نه یوازې د وزگارتیا کچې د کمېدو لامل کېږي، بلکې د کورنی اقتصاد ودې سره هم مرسته کوي.

دې ټکي ته موهم باید پام وي، چې د افغان کډوالو کوربه هېوادونه په داسې حال کې د میلیونونو افغان کډوالو د ایستلو هڅې کوي چې هېواد کې د نامناسب اقتصادي وضعیت له امله د بېکارۍ کچه لوړه شوې او له نورو هېوادونو د افغان کډوالو د ایستلو لړۍ دغه اندېښنې لاپسې زیاتوي، خوهېواد ته د راستنو شویو کډوالو لپاره دکار زمینې د برابرولو ترڅنگ باید د سرپناه په برخه کې هم د اسلامي امارت اړوندې مسئولې مراجع باید جدي پاملرنه وکړي ترهغو چې په ټولیزه توگه هېواد ته راستنېدونکې کډوال له ډېرو ستونزو او کړاوونو سره مخامخ نه شي، بلکې دوی ته په خپل هېواد کې د ننه د آبرومندانه او باعزته ژوند د پرمخ بیولو لازم شرایط او هراړخیزسهولتونه مساعد شي.

د ټولنې په پېژندلو کې ...

تیاره او په کابل کې چاپ کړه. د کنډولی د شعرونو ټولگه، په ۱۳۹۱ ل کال چاپ شوه. سیلاب ساپی د ۱۳۵۷ ل کال د لیندۍ پر ۱۶مه د وخت د حکومت له خوا نیول شوی او بیا د ۱۳۵۸ ل کال په بهیر کې شهید شوی دی. افغانان ښه ښه استعدادونه لري، په هر قالب کې، چې واچوال شي له څه مودې وروسته پرمختگ کوي. زموږ هغه ځوانان، چې له لیکوالۍ او شاعرۍ سره مینه او لېوالتیا لري، دوی کولی شي د خپل هېواد او له هېواده د باندې د شاعرانو تگلاره غوره کړي او د نویو ادبي او فرهنگي پرمختگونو په رڼا کې نوښت راولي. دا کار هغه مهال شونی دی،چې زیار وباسي، څېړنې، گروېږنې وکړي او ستومانۍ وزغمي، چې د ادب او شاعرۍ پوړ ته ورسېږي. په یوه ټولنه کې، چې څومره ادیبان او شاعران ډېرېږي هغومره د ټولنې د کلتور سطحه لوړېږي.

د کرنیزو توکو په کرکیله ...

نو پر دې بنسټ، د کرنیزو توکو په کرکیله کې تنوع، ددې ترڅنگ چې د خوراکي توکو او د ښې تغذیې امنیت د انسانانو لپاره برابروي، له کرنیزې ځمکې څخه د ډېرې گټې اخیستلو امکانات هم برابروي.

دغه راز د یادونې وړ ده چې د اسلام پاک دین، د گټې اخیستنې تر پړاوه د خوراکي توکو د کښت او تولید په بېلابېلو پړاوونو کې، د مال د بې ځایه لگښت چاره هم منع او حرامه بللې ده؛ لکه څرنگه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: له ابو مغیره بن شعبه رضی الله عنه څخه روایت دی، چې پیغمبر صلی الله علیه وسلم وفرمایل: (دصحیح البخاري، دحدیث شمیره: ۲۴۰۸ او د صحیح مسلم، دحدیث شمیره: ۵۹۳) ژباړه: «الله تعالی پر تاسو د پلار او مور ازارول او د لوڼو ژوندي خښول حرام کړي دي او د هغو څیزونو نه ورکول چې پر تاسو واجب دي او د هغه څه غوښتنه کول، چې هغه ستاسو نه دي، همدارنگه ستاسو لپاره ډېرې خبرې کول او ډېر سوال کول او د مال بې ځایه لگښت نه خوښوي. امام بخاري رحمه الله دې حدیث ته یو باب دی[چې د مال بې ځایه لگښت یې حرام گڼلی دی] تر نامه وضع کړی دی، د هغه له ناحقه لگولو څخه عبارت دی، یعني په غیر روا لاره کې یې لگښت دی، چې په هغه کې خوراکي توکی هم شامل دي. د پورته حدیث له مخې د مال بې ځایه لگښت، هغه که خوراکي توکي وي او یا نور څه، د اسلام له نظره رد شوي دي. موږ او تاسې د الله تعالی په نعمتونو کې هغه که خوراکی توکي او یا هم بل څه وي، پرته له کوم اسراف، افراط او تفریط څځه تصرف کولی شو، خو د هغه بې ځایه لگول، په ناروا او حرامو لارو کې یې مصرفول، ضایع کول یې دي. که چیرته د کرنیزو او خوراکی موادو له بې ځایه لگښت څخه مخنیوي ونه شي، په انسانانو کې د خوراکي توکو د ناامنۍ او د خوارځواکۍ لامل کیږي؛ نو موږ باید د کښت، زراعت او نورو حیواني محصولاتو په ټولو پړاوونو کې جدي پاملرنه وکړو، ترڅو چې د خوراکي توکو له ضایع کیدو مخنیوی وشي.

که چیرته موږ وکولای شو، چې د کښت یا کرکیلې له پړاوه بیا د گټې اخیستنې تر پړاوه پورې، د خوراکی توکو د ضایعاتو په کچه کې ټیټوالی راولو، نو د خوراکي توکو او تغذیې په امنیت کې ښه والي راوستلی شو. د کښت، د خوراکي توکو او د حیواني محصولاتو د تولید په ټولو پړاوونو کې، ضایعات د خوراکی توکو د نا امنۍ او په انسانانو کې د خوارځواکۍ لامل گرځي؛ نو باید چې له هر څه مخکې، د کښت یا کرکیلې له پړاوه بیا تر گټې اخیستنې پورې، د خوراکي توکو له اسراف او ضایعاتو څخه د مخنیوي په برخه کې جدي پاملرنه ولرو.

افغان اعلانات

د پښتني بانک د دويمې مزايدې خبرتيا

د کابل ولايت د لومړی تجارتی محکمې رياست د ۱۳۹۰/۵/۳۱ نېټې (۲۱۱) ګڼې قضايي قرار او د کابل د اختصاصی محکمې ۱٤٤٦/۵/۲۳ نېټې ٤۱۷ پر ۳۵۱ ګڼې تجويز او په اساس، سيد کريم د مير غلام سخي زوی په نامه يو باب مارکيت چې ۱۳۸۱/٤/٤ نېټې (۳۸ پر ۳۷۷) ګڼې شرعی قابلې درلودونکی ده او د کابل ولايت د ميوې مارکيت مخامخ په څلورمه ناحيې کې موقعيت لري د واعظی شرکت د پور پر بنسټ د بانک تر تضمين لاندې قرار لري د تطبيق پلاوي د نېټې ۱٤٤٦/۸/۱۹ ه ق چې ۱٤۰۳/۱۱/۳۰ نېټې سره سمون لری د تطبيق پلاوي د محضر پربناء د مزايدې په ناسته کې په (۱۲۵،۰۰۰،۰۰۰ افغانی) (يو سلو پنځه ويشت ميليونو افغانی) وپلورل شو.

هغه قدرمن حقيقی او حکمی اشخاص چې د پورته مبلغ څخه په لوړ بيه د پيرېدلو غوښتنه يې لري کولای شي خپل غوښتنليک د خبرتيا له خپرېدو څخه تر ۷ ورځو پورې د کابل د حقوق رياست او يا د بانک د مالی ملاتړ تولوني لوی مديريت ته وسپارئ .

د واعظی شرکت مسولينو ته خبر ورکول کېږی چې د مزايدې جلسه کې ګډون وکړي تردی پرته به راتلونکی مسوليت د بانک پرغاړه نه وي.۹۵۰۵

حويلي پلوري

د کابل ولايت اختصاصی محکمې رياست د ۱ ۱٤٤٦/۵/۱۱ نېټی (۲۱۸ پر ۱۷۵) ګڼې پريکړې پر بنسټ عبدالغفار د غلام نقشبند زوی د حبيب الله لمسي په نامه يو باب حويلی چې د ۱۳۸۳/۳/۱۱ نېټی (٤۰۸ پر ۷۰) ګڼې شرعی قابلې درلودونکی دی د کابل د يولسمې ناحيې د خير خانه په اوله حصه کې موقعيت لري د شفيع حبيبی شرکت د پور پر بنسټ د بانک تر تضمين لاندې قرار لري د داوطلبی او مزايدې له لارې پلورل کيږي.

هغه قدرمن حقيقی او حکمی اشخاص چې د پيرېدلو غوښتنه يې لري کولای شي خپل غوښتنليک د خبرتيا له خپرېدو څخه تر ۱۵ رسمي ورځو پوری د کابل د حقوقو رياست يا د بانک مالي ملاتړ راټولوني لوي مديريت ته وسپاری.

او همداراز د شفيع حبيبی شرکت مسولينو ته خبر ورکول کيږی چې په داوطلبی جلسه کې ګډون وکړي تردی پرته به راتلونکی مسوليت د بانک پرغاړه نه وي.۹۵۰۷

اطلاعیه فروش موتر

اسامی محترم شرکت راشد

الهام لمتيد يک عراده موتر پليت ۵۸٦۲٤- ل کابل نوع مان لاری جرمنی خويش را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای عبدالفتاح فرزند عبدالصمد بفروش رسانيده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند. ۹۵۳۱

اطلاعيه فروش موتر

اسامی محترم شرکت نوين احمدی لمتيد يک عراده موتر پليت ٤۸۱۷۱-۲ ش کابل نوع تيوتا کرولا سالون جاپانی خويش را بعد از طی مراحل قانونی خريد و فروش بالای خان آغا فرزند گل آغا بفروش رسانيده است.

بناء اشخاص ادارات و موسساتی که با عراده فوق کدام معامله داشته باشند الی مدت سه يوم به مديريت ترافيک کابل اطلاع دهند. ۹۵۰۹

اطلاعيه مفقودی

سند ملکيت زمين نمبر ۱۵۲٦۵ واقع ناحيه ۱۵ خير خانه به مساحت ۳۰۰ متر به اسم غلام محمد فرزند عبدالرشيد مفقود گرديده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱٦

اطلاعيه مفقودی

يک قطعه وصايت خط شرعی نمبر ۱۵۲/۲۵٤۷ مورخ ۱۳٦۷/۱۲/۱۹ مرتبه محکمه استيناف کابل به اسم ميرمن سکينه بنت بسم الله خان ولديت ملا سيد جان مفقود گرديده از اعتبار ساقط می باشد.۹۵۱۹

اطلاعيه مزايده جايداد

قرار است طبق فيصله خط شرعی نمبر (۳۷۳ بر ۵۹) مورخ ۱٤٤۵/٤/۳ و قرار قضايی تجويزی شماره (۱۰۲٤ بر ۵۵۵) مورخ ۱۲/ ٦/ ۱٤٤٦ ه ق ديوان تجارتی الف رياست محترم محکمه ابتدائيه شهری زون سوم ولايت کابل دکان نمبر (۳۳) واقع منزل چهارم مارکيت تجارتی اباسين څدران که در کوته سنگی کسب موقعيت نموده و تحت ذوليدی و تصرف محمد امين محکوم عليه می باشد ، از طريق داوطلبی و مزايده به فروش رسانيده می شود .

اشخاص حقيقی و حکمی که خواهش اشتراک مجلس داوطلبی را داشته باشند درخواستی های خويش را در خلال مدت ۲۱ روز اعتبار از تاريخ نشر اعلان به د آمريت تنفيذ و تطبيق احکام زون سوم رياست حقوق ولايت کابل واقع تعمير سابقه وزارت عدليه، پشتونستان وات بسپارند تضمين بصورت نقدی اخذ ميگردد.۹۵۳٤

د اسلامي نظام...

ودي، برښنا او بيا رغونې برخه کې کوټلي ګامونه اخيستل شوي دي چې دا اوس هم بسنه نه کوي، بايد شپه او ورځ کار وکړو چې د تېرو کلونو وروسته پاتې والي پوره کړو او ځان بسايني ته ځان ورسوو. د لوړو زده کړو علمي معين مولوي ضياءالرحمن وويل: نننی سيمينار چې د افغانستان د اقتصاد د ودې په موخه جوړ شوي له تولو زيات ارزښت لري، له اقتصاد پرته د هېڅ هم د ژوندي پاتې کېدلو امکان نشته، اقتصاد د ژوند اساس او د اسلامي نظام يوه مهمه برخه ده چې اسلامي امارت هم اقتصاد ته زياته پاملرنه کړې ده او لا به هم ډېره هڅه کوي. د اسلامي امارت له بيا ځلي واکمنۍ وروسته اقتصادي برخه کې زيات پرمختګونه راغلي دي او دې ته ژمن دي چې په هېواد کې نور هم اقتصادي پرمختګ رامنځته شي. د هېواد ټولې ادارې د اقتصاد د پياوړي کېدلو هڅه کوي، څکه چې هېوادوالو مو ډېر اقتصادي زيانونه ليدلي دي چې دې ته ورته سيمينارونه د اقتصاد په پرمختګ کې رغنده رول لري. خصوصي سکټور هم په دې برخه کې مسئوليت لري، سوداګر او پانګوال بايد په کور دننه پانګونه وکړي او بهر مېشتي پانګوال دې هم خپل هېواد ته راستانه شي او په کور دننه دې پانګونه وکړي چې ورته ښه سهولتونه او زمينه برابره شوې ده، د نورې نړۍ په پرتله زياته ګټه شته او هڅه مو داده چې پانګوالو ته زياته ګټه ورسوو. سوداګر، پانګوال، متخصصين او ټول هېوادوال د هېواد د اقتصاد په پياوړي کېدلو کې خپل مسئوليت لري او تر سره دې کړي . همدارنګه د اقتصاد وزارت مسلکي معين عبداللطيف نظري وويل: د اسلامي امارت اقتصادي سياست په خپل فکر سره رغوي، اسلامي امارت په خپلو نظرياتو اقتصادي پرمختګ کړي چې اوس هم په دې برخه کې زيات کار شوي دي او ښه بېلګه يې د بهرنيو پيسو پر وړاندې د افغانيو ارزښت ساتل دي چې اوس مو د هېواد پيسې په نړۍ کې په درېيم مقام کې قرار لري چې پرې راګړه ور کړه کېږي. د اسلامي امارت اقتصادي وده په کم وخت کې بې ساري ده او ملي ظرفيت ته کتنه شوې ده او دلته مو پانګونه کړې ده چې د ملي سرچينو په مرسته د هېواد اقتصاد رهبري کېږي. د هېواد په ډېرو برخو کې به زياتې حياتي پروژې په راتلونکو کلونو کې وګورو چې هېواد مو ځان بسايني ته ورسوي او له بهرنيو مرستو يې وژغوري.د صنعت او سوداګرۍ وزارت سر پرست مولوي نورالدين عزيزي وويل: افغانستان د خپل سر لوړي فرهنګ په لرلو سره له ډول ډول ستونزو سره مخامخ شوي دي چې د بهرنيو زياتره ناوړې پروژې دلته پلي شوې؛ خو اوس ټولنه له هر ډول تحميلي او پرديو له سياست څخه ازاده شوې ده. د صنعت او سوداګرۍ وزارت د اقتصادي سياست، ټولنيز پرمختګ، سولې، امنيت، فرهنګي ودې، عدالت او ساتنې دندې پر غاړه لري او په دې برخه کې يې خپله دنده تر سره کړې او تر سره کوي يې. د صنعت د ودې لپاره ځمکې ځانګړې شوې دي چې صنعت يوازينۍ لاره ده تر څو يې له صفر څخه پيل کړو او هېواد داسې ځاي ته ورسوو چې اړمنو هېوادونو ته د هېواد توليدات صادر کړو او په خپلو متو هېواد صنعتي ودې ته ورسوو. د نوموړي په وينا: له څه باندې درېوو کلونو راهيسې د هېواد اقتصاد د پياوړتيا په حال کې دي چې همدا به د راتلونکي لپاره دوامداره او پر پښو ولاړ واوسي. اوس وخت کې د افغانستان صادرات دوه ميلیارده ډالرو ته رسېدلي دي. له خصوصي سکټور سره په ګډې همکارۍ او د افغانستان اسلامي امارت د مسئولينو په ملاتړ اوس په هېواد کې ۱۵۰۰ فعال شرکتونه لرو.

زيارمل هوتک

عاليقدر اميرالمؤمنين...

فرامين، احکام او توصيې ورسوي. د علماوو شورا رئيس د ارزګان ولايت د خلکو مشکلات هم شريک کړل.ورپسې عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالي د مجلس ګډونوالو ته وينا وکړه، د ارزګان د علماوو شورا فعاليتونه يې وستايل او زياته يې کړه چې اوس د علماوو لپاره د خدمت ښه موقع برابره ده او علماء بايد د خلکو د ذهنيت جوړولو او خلکو ته د دين رسولو په برخه کې زيات کوښښ وکړي،همدا راز يې زياته کړه، علماء مکلف دي چې د مربوطه ولايت د خلکو د ستونزو د حلولو او اختلافاتو د ختمولو پوره کوښښ وکړي او په پای کې اميرالمؤمنين حفظه الله تعالي د ارزګان ولايت د مشکلاتو د حلولو ډاډ ورکړ. مجلس نظام او خلکو ته د دعايي په لوستلو سره پای ته ورسېد.

اسلامي امارت...

د اسلامي امارت مرستيال وياند زياته کړې: ((پر رسنيو د محدوديتونو د وضع کېدو په اړه چې ځينې تبليغات او پروپاګندونه اورېدل کېږي، د دې نوي رسنيز آدرس د پيل کېدو اعلان خپله په دې ټولو ناسمو تبليغاتو د بطلان کرښه راکاږي. د افغانستان اسلامي امارت ملي، شرعي او اسلامي ارزښتونو ته د درناوي په چوکاټ کې رسنيو ته پوره آزادي ورکړې او ورسره همکار دي.))په دې غونډه کې د خبريالانو د خونديتوب کمېټې مشر د رسنيو پر وضعيت، لاسته راوړنو او پر وړاندې يې شته ننګونو خبرې وکړې او د پخوا په پرتله يې د رسنيو وضعيت ښه ياد کړ.عبدالقديم وياړ زياته کړه، په تېرو درې نيمو کالو کې د شاوخوا٤۰ رسنيو او سلګونو خبريالانو مالي ملاتړ شوی.وياړ زياته کړې: ((د خبريالانو د شغلي او فزيکي مصئونيت لپاره چې کوم څه زموږ په توان کې دي، هغه مو کړي او کوو يې. دغه راز د حکومت له اړخه همکاري موجوده وه او وعدې شوې دي. موږ له ٤۰ رسنيو مالي ملاتړ کړې او دا خپله د خبريالانو د شغلي مصئونيت لپاره يو ستر ګام دی؛ همدارنګه له ۲۵۰ تنو خبريالانو سره نغدي مرستې شوې.))همدارنګه د ملي شورا پخواني غړي او سياستوال ډاکټررمضان بشردوست هم په دې غونډه کې وينا وکړه او په ټولنه کې يې د رسنيو رول اغېزناک ياد کړ. بشردوست له حکومته غوښتنه وکړه چې په هېواد کې د فعالو رسنيو ملاتړ وکړي.ډاکټر رمضان بشردوست وويل:« رسنۍ کولی شي اساسي او ستر رول ولوبوي. رسنۍ کولی شي د خلکو او ټولنې حقايقو، ستونزو، دردونو، رنځونو او غمونو ته انعکاس ورکړي. دغه راز رسنۍ کولی شي خوښيو، کاميابيو او برياليتوبونو ته هم انعکاس ورکړي.))د حکومت او خبريالانو د ملاتړ بنسټ مسئولينو دغه څرګندونې په کابل کې د يوه خصوصي خبري آژانس په پرانيست غونډه کې وکړې.

زابل کې...

شوي، ۱۳۸ ميليونه افغانۍ نغدي مرستې شوې او زرګونو نورو ته د کورني اقتصاد د پياوړتيا لپاره کرنيز تخمونه او نور اړين توکي وېشل شوي دي.

کابل کې کورونو...

هوکړه ليک لاسليک کېدل د پاسپورټونو د وېش په برخه کې مهم ګام ياد کړ او ډاډ يې ورکړ، چې د پاسپورټونو د وېش په بهير کې تخنيکي ستونزې په بشپړ ډول حل شوې دي. ښاغلي حسيب زياته کړه، چې اوسمهال د پاسپورټ لوي رياست د دې وړتيا لري، چې په ورځ کې تر ۳۰ زره هېوادوالو ته د پاسپورټونو د وېش په برخه کې خدمتونه وړاندې کړي.

د دغه هوکړه ليک له مخې به ټولو هېوادوالو ته د هغوی په خوښه د سل افغانيو په بدل کې د هغوی کور او کارځای ته په لنډ وخت کې پاسپورټونه لېږل کېږي.

د يادونې وړ ده، چې ټاکل شوې؛ په نږدې راتلونکې کې دغه لړۍ پر کابل سربېره نورو ولايتونو ته هم وغځول شي.

جلال آباد ښار کې...

د يوه سړک او ويالې د کانکرېټ کولو چارې پيل شوې دي.ده زياته کړې چې په ياده پروژه کې د سيمې ۸۰ اوسېدونکو ته د دوو مياشتو لپاره د کار زمينه هم برابره شوې ده.د سيمې اوسېدونکي د يادو پروژو په پلي کېدو خوښ دي او له سيمه ييزو مسئولينو د ورته نورو ټولګټو پروژو د پلي کولو غوښتنه کوي.

فراه کې له ٦۵ ...

واستول شي.د يادونې وړ ده، چې جک موسسې له دې وړاندې هم د فراه ولايتي روغتون او نورو روغتيايي مرکزونو سره ورته مرستې کړې دي.

همکاري اداري...

اصل بلخي او له همکارو ادارو يې غوښتي، چې په دې برخه کې له روغتيا وزارت سره همکاري وکړي.همداراز مولوي نور جلال جلالي د ناروغيو د مخنيوي، د واکسين د تطبيق د پوښښ پراخولو، د چارو د روڼتيا او پر لا زياتې همغږۍ ټينګار کړي او له اړوندو مسئولينو يې غوښتي، چې په دې برخو کې اړين اقدامات وکړي.همدارنګه د عامې روغتيا وزارت د څارنې او پلټنې لوي رئيس ډاکټر عنايتالله عنايت د يوه پريزنټېشن په ترڅ کې د روغتيا سيستم اوسني وضعيت او د هغو ناروغيو د مخنيوي په اړه معلومات وړاندې کړي، چې له ډلې يې پنځه ډوله ناروغۍ زياتې خپرېدونکي دي.ډاکټر عنايتالله عنايت له روغتيايي مسئولينو غوښتي، چې د يادو ناروغيو د مخنيوي لپاره د يوه جامع پلان د جوړولو او پلي کولو په برخه کې له دې رياست سره همکاري وکړي.سربېره پر دې، د روغتيا نړيوال سازمان او د يونيسف ادارې استازو د يادو موضوعاتو په اړه خبرې کړې او د روغتيا وزارت ته يې په دې برخه کې د دوامدارو همکاريو ډاډ ورکړی دی.

د پوهنې وزارت...

د پوهنې وزارت د ښوونې او روزنې مرستيال وويل؛ د پوهنې وزارت په خپل بې سارې اقدام کې د مرکزونو په شمول هغو لرې پرتو سيمو ته هم ښوونيز او روزنيز چوپړونه رسولي، کوم چې د تېرې اداري پرمهال ورته هېڅ ډول پام نه و شوی. نوموړي زياته کړه؛ په بېلابېلو برخو کې د پوهنې وزارت له پرمختګونو سربېره، نن ورځ له ۲۵ ادارو سره د سواد زده کړې کچې لوړولو لپاره هوکړه ليکونه لاسليکوو، چې په حقيقت کې دا په ادارو کې د نالوستو کسانو لپاره يو طلايي فرصت دي، تر څو هر هېوادوال د علم او پوهې له رڼايي څخه برخمن شي. ورپسې د پوهنې وزارت د کيفيت د تضمين مرستيال د ياد وزارت له خوا د هېواد له ۲۵ وزارتونو او ادارو سره د سواد زده کړې کچې د لوړولو په موخه د يادو هوکړه ليکونو لاسليکېدل خورا مهم وبلل او څرګنده يې کړه چې د اسلام په مبارک دين کې پر کتابت زيات ټينګارشوي؛ دا ځکه چې د ورځنې ژوند د ټولو کړنو پرمختګونه د ليک لوست پر پياوړتيا او تر لاسه کولو پورې تړلې دي.

د يو شمېر نورو وزارتونو مسئولينو او علماي کرامو هم د ليک لوست د اغېزو او اهميت په تړاو هر اړخيزې علمي ويناوې وکړې او د ټولنې وګړي يې د علم او پوهې تر لاسه کولو ته وهڅول.په پای کې د پوهنې وزارت په استازيتوب د ياد وزارت د ښوونې او روزنې مرستيال او کفيل مولوي سخاءالله سعيد او د هېواد د ۲۵ نورو وزارتونو او ادارو باصلاحيته استازو ترمنځ د سواد زده کړې کچې لوړولو په موخه د ګډو همکاريو هوکړه ليکونه لاسليک شول.د يادونې وړ ده، چې د پوهنې وزارت د لايحو په رڼا کې د همکاريو دا ډول تړونونه به د اړوندو وزارتونو او ادارو د نالوستو کسانو لپاره د سواد کچې لوړولو او تجربو شريکولو په برخه کې يو غوره فُرصت رامنځته کړي.

تفاهم نامه های همکاری...

به آسيبديدهترين قشر جامعه جزء اولويتهای ماست، از اين رو، ما تمام سهولتها را برای موسسات فراهم ميسازيم و کارهای آنان را در اسرع وقت انجام ميدهيم. همچنين از موسسات تقاضا داريم که کارهای خود را به سرعت و به صورت شفاف انجام دهند. سپس سيد لطيف بشردوست، رئيس موسسه کورد ايد، گفت: اين سه پروژه به ارزش بيش از ۲ مليون و ۳۰۰ هزار دالر برای بيش از۱۱هزارخانواده در مربوطات ولسواليهای ولايتهای هرات و تخار به حمايت مالی موسسات کاريتاس جرمنی، يو.ان و اوچا کمکهای نقدی و غير نقدی توزيع خواهد شد.

د رياست الوزراء ...

پروګرامونو کې يې ګډون کړی و.

ده زياته کړه ،چې په دغو روزنيزو پروګرامو کې خدماتي کارکوونکو ته د تشريفاتو او ميلمه پالنې او باغوانانو ته د مثمرو او زينتي بوټو د اصلاح او ساتنې په برخه کې معلومات وړاندې شوي دي؛ ترڅو وکولی شي خپلې دندې په سمه توګه ترسره کړي.الکوزي، د دې شان روزنيزو پروګرامونو د ترسره کولو موخه، په اداره کې د چارو ښه والي او په ورسپارل شويو دندو کې د کارکوونکو د ظرفيت لوړول وبلل.

دوو ګډونوالو حکمت الله او خان محمد هم، د روزنيزو پروګرامونو د ترسره کولو په خاطر د رياستالوزراء د عالي مقام د دفتر لوی رياست څخه د مننې ترڅنګ؛ د دغه شان روزنيزو پروګرامونو د دوام غوښتنه وکړه.

حماس او اسرائيل...

منلې، چې ٦۲۰ فلسطيني بنديان به چې ټاکل شوي وه، تېره شنبه ازاد شي- خلاصوي. تېره شنبه د کب ٤مه د حماس اسلامي غورځنګ له لوري د ٦ اسرائيلي بنديانو له ازادولو وروسته اسرائيلو د ٦۲۰ فلسطيني بنديانو خوشي کول وځنډول.ويل کېږي، چې حماس غورځنګ به د دې بنديانو په بدل کې د څلورو اسرائيلي بنديانو جسدونه صهيونيستي رژيم ته سپاري.د حماس اسلامي غورځنګ او اسرائيلي رژيم تر منځ غزه کې د جنورې پر ۱۵مه اوربند اعلان شو او څو ورځې وروسته د همدې مياشتې په ۱۹مه پلي شو.دا تړون په درېيو پړاوونو کې پلي کېږي. لومړی پړاو به ٤۲ ورځې دوام وکړي او ۳۳ اسرائيلي او شاوخوا ۱۹۰۰ فلسطيني بنديان به پکې خوشي شي.پر دې سربېره به فلسطينيان خپلو مېنو ته ستنېږي، هره ورځ به سيمې ته بشري مرستې داخلېږي او اسرائيل به له ګڼ مېشتو سيمو وځي.ثمه ده چې په دويم پړاو کې به دواړه لوري بنديان خوشي کوي او اسرائيلي عسکر به په بشپړه توګه له غزې وځي.په درېيم پړاو کې د اسرائيلي بنديانو جسدونه اسرائيلو ته سپارل کېږي او د غزې د بيارغونې بهير به پيلېږي.

اوربښت او سېلابونو...

ولسوالۍ په شهزاده سيمه کې د يو کور د چت نړېدو له امله دوو ماشومانو هم ژوند بايللی دی.بله خوا د کندهار د طبيعي پېښو مديريت هم راپور ورکړی، چې د ياد ولايت په «شورند» سيمه کې سېلابونو درې نجونې وړې دي.ځايي مسئولينو ويلي ،چې ښايي د وروستيو سېلابونو له امله د قربانيانو شمېر زيات شي او له هېوادوالو يې غوښتي ،چې د هواپېژندنې ادارې د وړاندوينې له مخې دې خطرناکو سيمو ته له سفر کولو ډډه وکړي.د ويلو وړ ده چې په يو شمېر نورو ولايتونو کې هم خونړي اوربښت او سېلابونو هېوادوالو ته درانه مالي زيانونه اړولي دي.

د شاعرانو...

او فرهنګ وزارت سره همکاري وکړي. ورته مهال، د «يوناما» استازې اليسا د ادبياتو او فرهنګ پر ارزښت خبرې وکړې او په ټولنه کې يې د هنر او ادبياتو شتون اړين بللی دی.ياد پروګرام د شاعرانو او ليکوالانو د شعرونو او مقالو په لوستلو سره پای ته رسېدلی دی.

د آمو سيند د څنډو ...

د اوبو راپورته کېدو له امله يې کرنيزې ځمکې او کورونه زيانمېري او ددغې پروژې له پلي کېدو هرکلی کوي.د دې پروژو د چارو په پيل سره ځينو کسانو ته د کار زمينه هم برابره شوې ده.درقد د تخار هغه ولسوالۍ ده چې د امو سيند پر غاړه موقعيت لري او تل د اوبو راپورته کېدو له ګواښ سره مخ ده.مسئولين وايي د دغې پروژې د چارو په بشپړېدو سره به يې کرنيزې ځمکې او کورونه د اوبو راپورته کېدو له ګواښ څخه خوندي شي.

د اوکراين...

د استخراج په شرايطو موافقه وکړه، پر کيف د مسکو بريدونو زور واخيست.د سي ان ان ټلويزيون د خبر له مخې ، زيلينسکي به د همدې تړون د لاسليک لپاره واشنګټن ته لاړ شي.د سرچينو له قوله: کيف هيله لري چې په دې موافقې سره به واشنګټن ورته امنيتي ضمانت ورکړي.شنونکي وايي: امريکا له جګړې وړاندې د اوکراين د کانونو د ترلاسه کولو لپاره سترګې خښې کړې وې چې په همدې موخه يې کيف د جګړې تل ته ښکته کړ.

د پنجشېر له...

د سرچينو پياوړي کولو لپاره هڅې وکړي. له ژورو څاهګانو دې ډډه وشي او د واورې او باران د اوبو زېرمه کولو لپاره دې څاهګانې وکيندل شي.د اوبو او انرژۍ وزارت د مسئولينو په وينا: د ځمکې لاندې اوبو د سطحې پورته کېدو لپاره يې د دره پشه يي او ارغندي اوبه مهار کړې او هم يې د کابل په بېلابيلو سيمو کې ۳٦۰۰ ژورې څاهګانې کيندلې دي.پلازمېنه کابل هغه ښار دی، چې نږدې اووه ميليونه وګړي ژوند پکې کوي او زيات شمېر اوسېدونکي يې د څښاک پاکو اوبو ته لاسرسي نه لري. دوی له اسلامي امارت څخه غواړي چې دې ستونزې ته دايمي حللاره پيدا کړي.اسلامي امارت بيا په دې برخه کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي.د اوبو او انرژۍ وزارت د اوبو د سطحې لوړولو لپاره جدي کار کړی او د کابل په بېلابېلو سيمو کې يې ۳٦۰۰ ژورې څاهګانې کيندلې دي.سربېره پر دې يې د روان لمريز کال د مرغومې مياشتې پر ۱۱مه د کابل په شکردرې ولسوالۍ کې د شاه او عروس بند ګټې اخيستنې ته وسپاره، چې شاوخوا شل زره کورنيو ته د څښاک پاکې اوبه برابروي.

پکتيا کې د واورې...

دوی غوښتنه وکړه چې هر څه ژر دې برښنا رياست ياده ستونزه حل کړي او برښنا دې بېرته وصل کړي.

در بدخشان...

((وقتی نهالی را در طبيعت غرس ميکنيم، قول ميدهيم که از طبيعت حفاظت کنيم. ما مسئول و مکلف هستيم که با آمدن فصل بهار، در حد توان خود، يک يا چند نهال غرس کنيم تا در زيبايی شهر و حفاظت از محيط زيستمان سهم داشته باشيم.)) ((با آمدن فصل بهار، طبيعت دگرگون ميشود و نياز مبرم طبيعت اين است که هر جوان ما، در حد توان، چند نهال مثمر يا غيرمثمر غرس کند. بهار فصل سرسبزی است و ما بايد مسئوليت شهروندی خود را ادا کنيم.))اين در حالی است که مسئولين و باشندگان بدخشان تأکيد ميکنند که پس از غرس نهال، در حفظ و آبياری آن نيز شهروندان و مسؤلان بايد توجه جدی داشته باشند.گفتنی است که براساس معلومات اداره حفاظت از محيط زيست بدخشان بيشتر ولسواليهای اين ولايت از جنگلات طبيعی برخوردار است و برای حفاظت از اين جنگلات، تلاشهای جدی را انجام ميدهند.

Hewad Daily

پنجشنبه دشعبان المعظم۲۸مه ۱۴۴۶ق کال د ۱۴۰۳ ل کال د کب ۹مه د 2025 م کال د فبروري 27مه

د ورځپاڼو رئیس : انجنیر عُزیر« بریالی»
موبایل : ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
آمر او مسئول مدیر : عطاء الله مبارز
موبایل: ۰۷۷۴۳۱۸۹۰۲
مسئول سکرتر: شېرمحمدنظري
موبایل: ۰۷۸۸۵۰۳۳۷۱

پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلورلارې، د حضوري چمن ختیځ
کابل - افغانستان
دارېکو شمېره: ۰۲۰ - ۲۵۲۶۳۴۰
E-mail :info@hewaddaily.com
E-mail : hewad1948@gmail.com
دهیوادورځپاڼې انټرنېټي پاڼې دلاندې ویب سایټ له لارې هم کتلی شئ
ویب سایت: www.hewaddaily.com
دشکایاتو اوتوزیع څانګه:
۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹-۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶-۰۷۳۶۰۶۰۷۳

د ریاست‌الوزراء د دفتر پر ۳۰۹ کارکوونکو تصدیق پاڼې ووېشل شوې



د افغانستان اسلامي امارت د ریاست‌الوزراء د عالي مقام د دفتر لوي ریاست د بېلابېلو برخو پر ۳۰۹ کارکوونکو تصدیق پاڼې ووېشل شوې.

د ریاست‌الوزراء د عالي مقام د دفتر لوی ریاست د کارکوونکو د ظرفیت لوړولو لوي مدیر فیض الله الکوزي، ویلي چې پرون د یو لړ مراسمو په ترڅ کې هغو ۳۰۹ کارکوونکو ته تصدیق پاڼې ووېشل شوې ،چې د ریاست‌الوزراء د عالي مقام د دفتر لوی ریاست له لوري، د اطلاعاتو او فرهنګ او کرنې، اوبولګولو او مالدارۍ وزارتونو په همکارۍ جوړو شویو روزنیزو...**۷مخ**

حماس او اسرائیل یو ځل بیا د بندیانو تبادله پیلوي



د غزې د اوربند په تړاو مذاکره کوونکي وايي، چې حماس غورځنګ او اسرائیل به یو ځل بیا د بندیانو تبادله پیل کړي.منځګړي لا هم د مصر په قاهره کې د غزې د اوربند په تړاو خبرې کوي او هڅه کوي، چې دا اوربند په ښه ډول پلي شي.حماس اسلامي غورځنګ ویلي: له منځګړو سره د هغو ۶۲۰ فلسطیني بندیانو د خوشي کولو لپاره هوکړې ته رسېدلي، چې تېره شنبه باید خوشي شوي وای. اسرائیلو...**۷مخ**


اوربښت او سېلابونو هیوادوالو ته ځاني او مالي زیانونه اړولي



په کندهار، فراه او هلمند کې د وروستیو ورځې د اوربښتونو او سېلابونو له امله ۲۹ کسان مړه او ۱۲ نور ټپیان شوي.

د ځايي مسئولینو په وینا ډېر قربانیان ښځې او ماشومان دي. د فراه له پېښو سره د مبارزې رئیس، مولوي محمد اسرائیل سیار ویلي، چې د یاد ولایت په «قلعه کاه» ولسوالۍ کې د سېلابونو له امله ۲۱ تنه مړه او شپږ نور ټپیان شوي دي.د ده په وینا ، په دغو کسانو کې ښځې او ماشومان هم شته او غرونو ته د چکر پرمهال سېلابونو راګیر کړي وو. په ورته وخت کې د هلمند د اطلاعاتو او فرهنګ رئیس، حافظ عبدالباري راشد ویلي، چې د یاد ولایت په سنګین، موسي قلعه او باباجي ولسوالیو کې د سیلابونو له امله پنځه کسان مړه او شپږ نور ټپیان شوي. د ښاغلي راشد په وینا، د سنګین....**۷مخ**

د شاعرانو او لیکوالانو د هڅونې لپاره فرهنګي پروګرام ترسره شو



د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت، د یوناما دفتر او د ((ای‌اس‌اې)) موسسې په همکارۍ، د شاعرانو او لیکوالانو د هڅونې په موخه فرهنګي پروګرام په کابل کې ترسره کړ.

په دې پروګرام کې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنر او فرهنګ معین مولوي عتیق الله عزیزي، د شعر او ادب پر اهمیت د خبرو ترڅنګ؛ ژمنه کړې چې د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت به د کتابونو د چاپ او خپرولو په برخه کې له لیکوالانو او شاعرانو سره مرسته وکړي.

د عامه کتابتونونو رئیس نعمت الله منتظر هم ډاډ ورکړی، چې دغه ریاست به لیکوالانو او شاعرانو ته اړینې آسانتیاوې برابرې کړي.همدا رنګه، د بهرنیو اړیکو رئیس شفیق احمدزي له نړیوالو بنسټونو څخه غوښتي ،چې شاعرانو او لیکوالانو ته د آسانتیاوو برابرولو په برخه کې له اطلاعاتو...**۷مخ**

د آمو سیند د څنډو تحکیمات پیل شول

د ۶۵ میلیونو افغانیو په لګښت د امو سیند د څنډو د تحکیماتو پروژه د تخار په درقد ولسوالۍ کې پیل شوه.د امو سیند د څنډو د تحکیماتو د رئیس په خبره په پام کې ده چې دغه پروژه تر راتلونکو لسو میاشتو پورې بشپړه شي.د امو سیند د څنډو د تحکیماتو رئیس، سید غلام مشواني په دې اړه وایي: ((انشاءالله، د دې پروژې کار به په لسو میاشتو کې بشپړ شي. لګښت یې د اسلامي امارت له بودجې تمویلیږي او ۶۵ میلیونه افغانۍ اټکل شوې دي.))بل پلو د تخار د درقد ولسوالۍ ځینې اوسېدونکي وایي: له کلونو راهیسې...**۷مخ**


پکتیا کې د واورې اورېدو له امله د برښنا ۳۰ ستنې چپه شوې



د پکتیا د برښنا ریاست مسئولین وایي، چې د دغه ولایت په مرکز ګردېز ښار کې وروستیو شپو کې د واورې د اوربښت له امله د برښنا شاوخوا ۳۰ستنې چپه شوې دي.د پکتیا برښنا ریاست د تخنیکي او عملیاتي چارو مدیر انجنیر عبدالرحمن رسنیو ته ویلي، چې د مرکز ګردېز ښار بلندمنزلو او شاوخوا نورو سیمو کې د دولتي برښنا ځینې پایې چپه شوي چې د شاوخوا ۲۵۰۰ کورنیو دولتي برښنا هم پرې شوې.ده وویل: ((د واورې اوربښت له امله تر ۱۲۰ پورې د برښنا پایې زیانمنې شوي او تر ۳۰ پورې چپه شوې دي. ځینو ځایونو کې کیبل شکېدلي، شارټي هم رامنځته شوې. موږ هڅه کوو ،چې بېرته برښنا عادي حالت ته راولو، تقریباً د ۲۵۰۰ کورنیو برښنا پرې شوې.))د مرکز ګردېز ښار یوشمېر اوسېدونکي هم وایي، چې له وروستیو شپې راهیسې یې، د کورونو برښنا پرې شوې ده...**۷مخ**

د اوبو او انرژۍ وزارت:

د پنجشېر له سیند څخه کابل ته د اوبو د لېږد او ډیزاین چارې بشپړې شوې



د اوبو او انرژۍ وزارت وايي، چې د کابل مېشتو د اوبو د کمښت ستونزې ته د رسېدو په موخه یې د پنجشیر له سیند څخه د اوبو د رالېږدولو پروژې د سروې او ډیزاین چارې بشپړې کړې او د منظورۍ لپاره یې د اسلامي امارت رهبرۍ ته وړاندې کړې دي.یاد وزارت زیاتوي، چې له تأییدي او د بودیجې له ورکړې وروسته به د یادې پروژې عملي چارې پیل شي.د اوبو د برخې کارپوهان وايي، چې کابل ته د پنجشیر سیند د اوبو د لېږد پروژې تر څنګ دې کابل ښاریان او حکومت هم په ګډه د ځمکې لاندې اوبو...**۷مخ**

د روسیې د دفاع وزارت:

د اوکراین پوځي مرکزونه مو په نښه کړي

د روسیې د دفاع وزارت ویلي، ځواکونو یې وروستۍ ورځ په هوایي بریدونو کې د اوکراین پوځي مرکزونه او هوايي ډګرونه په نښه کړي.د تاس خبري اژانس د راپور له مخې، دغه بریدونه د اوکراین خارکوف سیمه کې شوي چې له امله یې په لسګونو اوکرایني پوځیان وژل شوي او توپخانې یې له منځه وړل شوې دي.وروسته له هغې چې اوکراین له امریکا سره د کانونو...**۷مخ**

د پاکستان او بنګله‌دېش تر منځ سوداګري پیل شوه

د راپورونو له مخې، بنګله‌دېش په لومړي ځل له پاکستان سره مستقیمه سوداګري پیل کړه. بنګله‌دېش په ۱۹۷۱ کې له پاکستانه ازادي واخیسته او دا لومړی ځل دی، چې دواړه هېوادونه خپلمنځي سوداګري پیلوي.د یادو هېوادونو له لوري د شوې هوکړې پر بنسټ د بنګله‌دېش له قاسم بندر څخه د ۵۰ زره ټنو وریجو لومړنۍ جوپه پاکستان ته استول شوې ده.د یادونې وړ ده، چې په بنګله‌دېش کې د محمد یونس په مشرۍ د لنډمهالي حکومت له رامنځته کېدو وروسته له پاکستان سره د لومړي ځل لپاره سوداګریزې اړیکې پیل شوې دي.د نوبل



جایزې ګټونکي محمد یونس په بنګله‌دېش کې د لاریونونو له امله د لومړۍ وزیرې شیخ حسینې واجد د حکومت له نسکورېدو وروسته د لنډمهالي حکومت مشر وټاکل شو.

در بدخشان ۱۵۰ هزار نهال غرس می شود



همزمان با نزدیک شدن فصل بهار و زنده شدن طبیعت، مسؤلین ریاست حفاظت از محیط زیست ولایت بدخشان می گویند که برای سرسبزی و حفظ محیط زیست، در همکاری با سایر ادارات و مؤسسات، کمپاین نهال‌شانی را در این ولایت آغاز کرده‌اند و قرار است امسال بیش از ۱۵۰ هزار نهال مثمر و غیرمثمر در نقاط مختلف این ولایت غرس شود.قاری فیض‌الرحمن ابراهیمی، رئیس حفاظت از محیط زیست بدخشان، در این مورد می گوید: ((برای حفاظت از محیط زیست بدخشان، یک‌صد و پنجاه هزار نهال در همکاری با ادارات مختلف و مؤسسات در ساحات عامه، قبرستان‌ها و نقاط آسیب‌پذیر غرس می‌شود. همچنان ریاست محیط زیست بدخشان جهت حفاظت از جنگلات طبیعی، مکتوب‌ها و احکام ریاست‌الوزراء را به تمام ولسوالی‌ها ارسال کرده و از طریق علمای دین آگاهی‌دهی کرده است.))در همین حال، شماری از باشندگان ولایت بدخشان می گویند که تمام مردم، به‌خصوص جوانان، با آمدن فصل بهار مکلفیت و مسئولیت دارند یک نهال و یا دو نهال غرس کرده و در سرسبزی طبیعت سهم بگیرند. باسط و محمد، دو تن از باشندگان بدخشان، در این مورد می گویند:...**۷مخ**

د فراه د ګمرک ریاست کارکوونکو ته ودانۍ جوړه شوه



د فراه په شیخ ابونصر فراهي بندر کې د ۱۲.۸ میلیونه افغانیو په لګښت د ګمرک ریاست کارکوونکو د استوګنې لپاره ودانۍ جوړه او ګټې اخیستنې ته وسپارل شوه.په جوړو شویو مراسمو کې د مالیې وزارت د ګمرکونو د ملاتړ او پراختیا ریاست یو مسئول انجنیر هدایت‌الله انورزي وویل، چې یاده ودانۍ د مالیې وزارت له پراختیایي بودجې د ۱۲.۸ میلیونه افغانیو په لګښت د ۱۴ میاشتو په موده کې جوړه شوې ده.

نوموړي وویل: دا ودانۍ ۲۱ خونې لري ،چې په یو وخت کې د ۱۲۰ کارکوونکو د استوګنې ظرفیت لري.د یادونې وړ ده، چې له دې وړاندې هم د شیخ ابونصر فراهي بندر کې د سوداګریزو توکو د تخلیې لپاره دوه معیاري ګودامونه جوړ شوي وو.